# د امت يو والی

نن ورځ مسلمانان په ټوله نړۍ کې له کړکېچ سره لاس او ګرېوان دي. د دې لوی لامل خپلمنځي اختلافات او مخالفتونه دي. له همدې امله اړتيا ده چې د فکري اختلاف او مخالفت تر منځ توپير وپېژندل شي او مخالفت له منځه يو وړل شي. پر همدې موضوع د مفتي مُحَمَّد شفيع عثماني رح مهم کتاب: ((**د امت يو والی**))

Ketabton.com

**ليکوال:** **حضرت مولانا مفتي محمد شفيع عثماني رح**

**ژباړه:** **ار. ايس. (فراز)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **د کتاب په اړه**:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم: | ........................... | وحدت امت |
| د ژباړې نوم: | ........................... | د امت یو والی |
| لیکوال: | ........................... | مفتي مُحَمَّد شفیع عثماني رح |
| ژباړن: | ........................... | رحمت شاه (فراز) |
| کمپوز: | ........................... | رحمت شاه (فراز) |
| د ژباړې نېټه: | ........................... | 2018 ، 17 ، مارچ ، سه‌شنبه |



د ژباړن:

د اړیکې شمېرې:

0093 (0) 78 06 34 838

0093 (0) 76 75 74 834

برېښنالیک:

rsfaraz4@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


سریزه ........................................ 5
حجة الوداع (د خدای پامانۍ حج) ........................................ 8
د ناروغۍ علتونه او درملنه ........................................ 9
په صحابوو او تابعینو کې د نظرونو اختلاف او پوله یې ........................................ 10
یو شک او ځواب ........................................ 11
یوه مهمه پېښه ، یو مهم ټکی ........................................ 12
که د نېکو اسلافو ترمنځ اختلاف وي ، نو خلک څه وکړي! ........................................ 14
یوه ارزښتمنه وینا ........................................ 17
د مجتهدو امامانو په اختلاف کې کوم لوری منکر نه وي ........................................ 17
د اجتهاد شرایط ........................................ 18
د سنت او بدعت په لانجه کې غوره تګلاره ........................................ 18
د امت د افتراق اسباب ........................................ 19
د فکر شېبه ........................................ 20
د دیني ډلو غلو ........................................ 23
د پیغمبرانه دعوت له پامه غورځول ........................................ 24
د پیغمبرانه بلنې څلور عناصر ........................................ 24
د انبیاوو (علیهم السلام) سپېڅلې تګلاره ........................................ 26
د نبوت تګلاره او موږ ........................................ 27
د وینا لنډیز ........................................ 28
له با مسؤلیته علماوو له درد ډکه غوښتنه ........................................ 28

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امت اختلافات او د هغو حل ........................................................ 33
د رايې د اختلاف بريدونه ........................................................ 34
سوله او جګړه ، له چا سره ........................................................ 35
د رغونې يوه ناسمه هڅه ........................................................ 36
د نظري اختلاف او جنګ و فساد توپير ........................................................ 37
د صحابوو او مجتهدو امامانو تګلاره ........................................................ 37
شخړه او سمون ........................................................ 38
د اختلافاتو د خرابيو پر وخت درملنه ........................................................ 39
سمه او ناسمه تګلاره ........................................................ 40
د خپل منځي جګړو او شخړو دوه رکنه ........................................................ 41
د عامو سياسي او شخصي جګړو علاج ........................................................ 41

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

نحمده و نصلي علی رسوله الکريم ؛

د پاکستان د مفتي محمّد شفيع (رحمه الله) مبارک نوم پيژندګلوي ته اړتيا نه لري. مفتي صېب که د خپل علم ، پوهې ، تقوا او د فکري او نظري وسعت له امله د علم د خاوندانو په ټولو فکري مکاتبو کې د قدر او درناوي وړ وو ، نو په عام ولس کې هم په هر چا ګران او زړه ته نږدې وو.

الله تعالی مرحوم مولانا په ديني پوهه مالا مال کړی او په زړه کې يې ورته د اهل سنت پر ټولو فقهي مسلکونو تبحر ور په برخه کړی وو او مرحوم د ژبې او قلم پر مټ په دې هڅه او هاند کې وو چې د مسلمانانو وړتياوې او صلاحيتونه په خپل منځ کې په فقهي او څنګيزو (فرعي) اختلافاتو کې د ضايع کېدو پر ځای د امت د يو والي د تصور په پخلي او ټينګتن کې وکارول شي. داسې چې اختلافات يوازې تر روا بريدونو پورې وي او په هېڅ ډول هم د مخالفت بڼه خپله نه کړي.

مرحوم مولانا دا خبره په کلکه احساس کړې وه چې کله د نظرونو اختلاف د مخالفت بڼه غوره کړي نو د امت يو والي ته پوخ ګوزار ورکوي او دا افتراق او بېلتون په نړۍ کې  د ټول امت د ذلت او سپکاوي لامل ګرځي. مولانا مرحوم په پاکستان کې د اسلامي نظام په ټيکاو او خپرېدا کې د اهل سنت د بېلا بېلو فکري مکاتبو په مخالفتونو خورا زيات ځورېدی. د هغه کره رايه دا وه چې د امت يوالي ته ځومره اړتيا چې د پاکستان اهل سنت ډله لري ، ښايي بل کوم هېواد يې ورته ونه لري.

مرحوم مولانا کابو څوارلس کاله پخوا د ((لايل پور- د اوسني فيصل آباد)) په مدرسه کې چې د هېواد په کچه د ((سلفي مسلک- اهل حديث)) يوه نوموتې مدرسه ده ، د ((امت  يو والی)) پر موضوع يې په خورا خوږمن زړه د خپل فکر څرګنداوی وکړ. له دې وروسته يې په همدې موضوع يو ځل بيا هم وينا وړاندې کړه.

دا دواړه ويناوې لومړی ((مکتبه المنبر- فيصل اباد)) او وروسته بيا ((دارالاشاعت – کراچي)) خپرې کړې. د دې ويناوو مهم اقتباسات د ((خدام اسلام ټولنې – ټاؤن شپ لاهور)) د زرګونو په شمېر خپاره او مسلمانانو ته ورسول او لا يې هم رسوي.

د دې خبرې شديده اړتيا ده چې د مفتي محمّد شفيع رح کتاب ((د امت يوالی)) په لويه کچه د عامو ، خاصو او په ځانګړې توګه د علم د خاوندانو حلقو ته د رسولو په موخه د يوه اړين کار په حيث پاملرنه وشي. همدې موخې ته په کتو د ((خدام القرآن مرکزي ټولنه – لاهور)) د دې ګټور کتاب لومړی ګڼه خپروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ډاکټر) ابصار احمد (عفی عنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وکفی و سلام علی عباده الذین اصطفی.

زما مشرانو او ملګرو! دا خبره یو حقیقت دی او په دې کې کوم ډول عاجزي هم شتون نه لري چې د خپل ژوند له لومړۍ ورځې څخه ، نه ویناوال وم ، نه واعظ او نه لویو غونډو ته په وینا کولو عادي یم. زما ټول ژوند یا په مطالعه او تدریس کې تېر شوی او یا مې د عامو مسلمانانو د اړتیا له مخې په مختلفو کتابګوټو (رسالو) کې د لیکوالۍ په موخه پاڼې تورې کړې. د دې بوختیاوو ترڅنګ زما مشرانو د خپل نېک ګومان له کبله د فتوا لیکلو خدمت را وسپاره چې د ژوند یوه لویه برخه مې په همدې کې تېره شوه.

زموږ قدرمن ((حکیم عبد الرشید اشرف صېب)) د خپل نېک ګومان او پېرزوینې له مخې دلته را وغوښتم او کوم عنوان یې چې ماته د وینا لپاره وسپاره ، هغه څرنګه چې د خپل حقیقت له مخې باوري او څرګند دی چې په هغه کې د دوه لارې کېدو هېڅ ځای نشته ، په همدې ډول زموږ په ټولنه کې د هغه شتون هم داسې نادرکه دی چې خپلې ټولنې ته په کتو په دې موضوع باندې د خولې پرانیستو زړورتیا هم نه را پاتې کېږي. عنوان دا راکړل شوی چې اسلامي امت له داسې یو والي برخمن دی چې وېش نه منونکی دی. دا خبره په خپل ځای بالکل سمه ده او داسې حقیقت دی چې انکار ترې نه شي کېدی ، خو زموږ حالات او پېښې نړۍ ته په واضح ډول څرګندوي چې دا امت هېڅکله هم نه شي یو کېدی.

خپلو حالاتو او د وخت ځانګړتیاوو ته له پام پرته د دې مسئلې په دلایلو خبرې کول یوازې یوه فلسفه ده چې زموږ هېڅ اړتیا پرې نه بشپړېږي. د همدې لپاره غواړم د دې مسئلې پر مثبت اړخ له خبرو کولو زیات د هغې پر منفي اړخ یعنې ((بېلتون او افتراق)) ، علتونو او درملنې رڼا واچوم.

تر کومه ځایه چې د اسلام بلنه د یو والي او د ټولې نړۍ د مسلمانانو بلکې د ټولو انسانانو پر یوه ملت ، یوې کورنۍ او یوې ورورګلوۍ بدلولو په لور ده نو هغه داسې څه نه دي چې کوم مسلمان دې ترې ناخبره وي. د قرآن کریم په څرګندو ټکو ((خلقکم من نفس واحدة)) د آدم علیه السلام اولاده یعنې انسانان ؛ او په ((انما المؤمنون اخوة)) کې یې مسلمانان د یو بل وروڼه ګڼلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حجة الوداع (د خدای پامانۍ حج)

د حجة الوداع په وروستۍ وینا کې رسول اکرم ص د هغه وخت د مسلمانانو په لویه غونډه کې چې کوم لارښود آرونه بیان کړل په هغو کې یې دا خبره په ډېر ټینګار روښانه کړه چې: ((په اسلام کې د تور او سپین ، عجمي او عربي او داسې نورو هېڅ لوړاوی نشته ، ټول له یوه مور او پلار نه زېږېدلي دي.))

د دې لارښوونې له مخې د جاهلیت د هغه یو والي ریښې چې خلکو د نسب ، کورنۍ ، هېواد ، رنګ او یا ژبې پر بنسټ له بېخه و ایستې او یوازې د توحید او دین یو والی یې رامنځته کړ.

همدا هغه رښتینی یو والی دی چې د ختیځ او لویدیځ ټول بني آدم او د بشر ټول وګړي یو ځای کولی ، یو قوم او د یو بل ورونه ګرځولی شي او د کار او زیار پر مټ رامنځته کېدلی شي. د نسب ، هېواد ، رنګ او ژبې پر بنسټ کوم یو والی چې د جاهلیت په دور کې رامنځته شوی وو ، د نن ورځې د خیالي روڼ اندۍ په دور کې یو ځل بیا هماغه یووالی نمانځل کېږي. د همدې وحدتونو په اساس د انسانانو په طبقو کې بېلتون رامنځته شوی او بېلتون هم داسې چې د کوم کار یا کوښښ په واسطه له منځه نه شي وړل کېدی. ځوک چې تور دی هغه سپین کېدی نه شي ؛دغه راز هغه چې په نسب کې سید یا شیخ نه وي ، په کار او زیار شیخ یا سید نه شي کېدی.

اسلام د یوه داسې یو والي په لور بلنه ورکړه چې ټول بشري وګړي بې له کوم خنډ څخه پکې ګډون کولی شي او څنګه چې دا یو والی له یوه رښتیني څښتن ((وحده لا شریک له)) سره د پیوستون او د هغه د دین له خپراوي سره تړلی ، له همدې امله په دې کې شک نشته چې دا یو والی هېڅ ډول وېش ته هم غاړه نه ږدي.

کوم عنوان چې په دې غونډه کې راکول شوی دی د هغه پر مثبت اړخ په همدومره خبرو بسنه کوم. خو اوس دا ګورم چې دا یوه عقیده او باور ګرځېدلی چې په ژبو روان او په کتابونو کې لیکل شوی دی. خو کله چې یوازې د خپل شاوخوا نه ، بلکې د ختیځ او لویدیځ د ټولو انسانانو حالاتو ته وکتلی شي نو د هغه بر عکس دا احساسېږي چې په اسلامي ملت کې بېلتون رامنځته شوی. داسې بېلتون چې د یو والي شونتیا یې تر لرې لرې هم نه برېښي. هغه ملت چې د نړۍ ټولو انسانانو ته یې د یوه خدای د منلو له لارې د یو کېدو او د یوې وروګلوۍ بلنه ورکوله: ((یاایها الناس اتقو ربکم الذی خلقکم من نفس واحدة — سورة النساء)) هغوی یې یو بېل قوم وګرځول او د خدای منونکي یې د قانون له مخې یو ملت او د یو بل ورونه کړل ، یو موټی یې کړل او یو نه ماتېدونکی ځواک یې وګرځول ؛ خو نن هماغه ملت په ډول ډول تفرقو کې اخته ، له یو بل نه بېزاره او په جګړو بوخت ښکاري. په دې کې د سیاسي ډلو ټپلو جګړې ، د نسبي ورورګلویو بېلتون ، د کاروبار او مسلک وېش ، د شتمن او بې وزله توپیر لا ړومبی د کرکې بنیاد وو ، خو ډېر افسوس د دې دی چې یوازې دین او خدای لمانځنه د نورو د راخپلولو او د نسبي ، نسلي ، هېوادنیو او ژبنیو تفرقو د له منځه وړلو یوه اکسیره نسخه وه ، هغه هم نن زموږ لپاره د جنګ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې ، دښمنیو او شخړو وسیله ګرځېدلې چې ټول ملت یې په دیني او دنیوي اعتبار د هلاکت کندې ته ټېل وهلی او له هغې کندې د وتلو هېڅ لار هم نه تر سترګو کېږي. زموږ هر خوځښت د بېلتون او هره ډله د تفرقې عناصر له ځانه سره لېږدوي. او همدا هغه ناروغي ده چې اسلامي امت یې د شمېر له زیاتوالي سربېره له زوال سره مخ کړی. هر قوم په تمه دی چې موږ په خپل ځان کې ور جذب کړي. د مسلمانانو د ژوند هره څانګه له عقایدو نیولې تر اعمالو او اخلاقو ، له فرهنګ او ټولنیز ژوند نه تر معاملاتو او اقتصاد پورې د بېلا بېلو قومونو تر یرغلونو لاندې ده. دښمن قومونه که یوې خواته د حکومت ، واک ، اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې د مسلمانانو خپلواکي را کموي ، نو بل لور ته د ملحدانه تبلیغاتو په وسیله د هغوی عقیدې او اندونه ټکني او د خدای لمانځنې اصول د نوي تعلیم ، فرهنګ ، خواخوږۍ او زړه سواندۍ په عنوان پر هوا پرستۍ بدلوي. زموږ ولس د انګرېزانو د یو نیم سلو کلو په واکمنۍ کې د بېلا بېلو چلونو په واسطه د دین له زده کړې بې برخې او له حقایقو نابلده کړی شو ، او اوس د کورنۍ علمي او فکري شتمنۍ له لاسه ورکولو وروسته کوم څه چې د نورو له خوا راځي ، زموږ ولس هماغه د نېکمرغۍ پانګه بولي ؛ په ځانګړې توګه هغه وخت کله چې د دې تعلیم او فرهنګ په سیوري کې د نفس د بې واګه خواهشاتو او مزو چړچو ډګر هم پرانیستی پروت وي ؛ په دې نازک وخت کې زموږ علما او د فکر او اند ښتنان په خپلو وړو او څنګیزو اختلافونو او په ډېرۍ بې ارزښته مسایلو کې داسې اخته دي لکه د اسلام پر پولو باندې له کېدونکو یرغلونو چې هېڅ خبر نه وي.

## د ناروغۍ علتونه او درملنه

د نن ورځ په دې ناسته کې د ملت غم خوږونکي عالمان ، فاضلان او مفکرین را غونډ شوي دي ، زړه مې غواړي ، د ملت د دې ناروغۍ د علتونو او پر د هغې پر درملنې یو څه رڼا واچوم ؛

ټول را یو ځای دي نن غوټې د زړه دې وسپړه
ښــــــایي پاتې نه شي بیــا مینه په ملګرو کې

له هر څه نه مخکې دا څرګندول غواړم چې په نظري مسایلو کې د نظر اختلاف نه تاوان لري ، نه یې د له منځه وړلو اړتیا شته او نه له منځه وړل کېدی شي. د نظر اختلاف نه د اسلامي یو والي ضد دی او نه کوم زیان لري. د نظرونو اختلاف یوه فطري او طبیعي چاره ده چې نه ور څخه د انسانانو کومه ډله تشه پاتې شوې او نه پاتې کېدی شي. د یوې ډلې تر منځ په هر کار او هره خبره د نظر یووالی په بشپړ ډول یوازې په دوو صورتونو کې کېدلی شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو دا چې په هغوی کې د پوښتنې او ګروېږنې ځوک نه وي چې په مسايلو باندې د فکر کولو له مخې د نظر ورکولو وړتيا ولري ؛ له همدې امله په داسې ټولنه کې يو شخص چې يوه خبره وکړي نو نور ټول له هغه سره له دې امله همغږي کېږي چې له هېڅ ډول نظر ، رايې يا بصيرت څخه برخمن نه وي.

دوهم په هغه صورت کې په بشپړه توګه پر نظر اتفاق کېدی شي چې د ټولنې خلک ضمير خرڅوونکي او خاينان وي چې د خبرې په ناسموالي او زيان باندې له پوهېدو سربېره هم يوازې د نورو خلکو د مراعت او زړه ساتنې له امله خپل اختلاف نه ځرګندوي.

او چېرته چې  هم عقل وي او هم رښتينولي ، هلته دا ناشوني ده چې د هغوی ترمنځ دې د نظرونو اختلاف نه وي. له دې نه دا په ډاګه شوه چې د نظرونو اختلاف له عقل او رښتينولۍ را ټوکېږي. له همدې کبله د خپل ذات له مخې نظرياتي اختلاف مذموم نه شي بلل کېدی. او که حالات او معاملات په سمه توګه وڅېړل شي نو د نظر اختلاف که له خپلو پولو وا نه وړي ، هېڅکله د يوه قوم يا ټولنې لپاره زيان نه راوړي ، بلکې ډېرې ګټورې پايلې زېږوي. په اسلام کې د مشورې د درناوي او پر هغې د ټينګار کولو اساس همدا دی ، تر څو د هغه مسئلې اړوند مختلف اړخونه او بېلا بېل نظرونه روښانه شي او پرېکړه په بصيرت وشي. که د نظر اختلاف رټلی او مذموم وګڼل شي نو بيا خو د مشورې ګټه هم نه پاتې کېږي.

## په صحابوو او تابعينو کې د نظرونو اختلاف او بريدونه يې

په دنيوي او تجرباتي چارو کې د نظر اختلاف پخپله د رسول کريم ص په مبارک دور کې د هغوی په غونډو کې هم کېدی ؛ او راشده خلفاوو او د عامو صحابه کرامو په دور کې له عملي چارو ور هاخوا کله چې نوې نوې پېښې او شرعي مسئلې را پيدا شوې چې په قرآن او حديث کې يې ځرګنده يادونه نه وه راغلې ، يا د قرآن د يوه آيت له بل آيت سره يا د يوه حديث له بل حديث سره ظاهري ټکر تر سترګو شوی او د قرآن او سنت په نصوصو کې د غور کولو له مخې د تعارض د له منځه وړلو او د شرعي مسايلو په را ويستلو کې نظر او قياس ته اړتيا پېښه شوې ، نو د دې سپېڅلې ډلې ترمنځ هم د نظرونو اختلاف پېښ شوی. او د عقل او ديانت په اساس د دې اختلاف رامنځته کېدل اړين او حتمي وو.

د اذان او لمانځه په څېر د عبادتونو چې په ورځ کې پنځه ځله په څلو او جوماتونو کې ترسره کېږي ، په جزيي کيفياتو کې هم د دې سپېڅلې ډلې تر منځ ښه پراخ اختلاف ليدل کېږي. او د نظر د دې اختلاف پر سر خپل منځي بحث او مباحثو هم کمی نه درلود. همدا رنګه په غير منصوص احکامو يا د حلال او حرام او روا او ناروا په ناځرګند او مبهم معاملاتو کې هم د صحابه کرامو رضی الله عنهم د رايو اختلاف کوم پټه خبره نه ده. بيا د صحابو کرامو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کوونکو یعنې تابعینو دا عمل هر عالم ته څرګند دی چې په هغوی کې به یوې ډلې د یوه صحابي رایه غوره کوله او نورو به د هغه په مقابل کې د بلې ډلې یا د بل صحابي په رایه عمل کاوه ؛ خو د صحابوو او تابعینو په دې ټول ((خیر القرون — غوره پېر)) کې او له هغوی وروسته بیا د مجتهدو امامانو او د هغوی په پیروانو کې یوه پېښه هم نه ده رامنځته شوې چې یو بل ته یې ګمراه یا فاسق ویلي وي یا په یو چا د مخالفې ډلې او فرقې له امله یې خلک د هغوی له اقتدا منع کړي وي یا جومات ته کوم راتلونکي دا پوښتلي وي چې د دې ځای د امام او مقتدیانو د اذان او اقامت صیغې ، د فاتحې لوستل او ((رفع الیدین — د لاسونو اچتول)) وغیره د کوم مسلک په اساس ترسره کېږي. د دې اختلافاتو پر سر د یو بل په خلاف جنګ ، جګړې ، کنځلو ، بد رد ویلو ، سپکاوي ، رشخند وهلو او فقره بازۍ هغو وختونو کې هېڅ ځای نه درلود.

امام ابن عبدالبر قرطبي په خپل کتاب ((جامع بیان العلم)) کې د سلف د خپلمنځیو اختلافاتو حال په دې ټکو کې راوړی: ((عن یحیی بن سعید قال ما برح اهل الفتوی یفتون فیحل هذا و یحترم هذا فلا یری المحرم المحل هلک لتحلیله ولا یری المحل ان المحرم هلک لتحریم (جامع العلم — ص: ۸۰) ژباړه: یحیی بن سعید رحمه الله فرمايي چې: د فتوا وړ اشخاصو به تل فتوا ورکوله. یو شخص په غیر منصوص احکامو کې یو شی حلال ګرځوي ، بل ورته حرام وايي ؛ خو نه هغه چې حرام یې بللی داسې فکر کوي چې چا چې د حلت فتوا ورکړې هغه هلاک او بې لارې شو. او نه هغه چې حلال یې بللی ، دا فکر کوي چې چا چې د حرمت فتوا ورکړې هغه هلاک او بې لارې شو.))

په همدې کتاب کې راځي چې حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه د مدینې له فقیه حضرت قاسم بن مُحَمَّد رح نه د یوې اختلافي مسئلې اړوند پوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمایل چې په دې دواړو رایو کې چې په هرې یوې عمل وکړې بسنه کوي ، ځکه چې دواړو اړخونو ته د صحابه کرامو تګلاره شتون لري. ((جامع بیان العلم))

## یو شک او ځواب

په دې ځای کې د دین له اصولو او د اختلافاتو له علتونو سره نابلدو ته دا شک ور لوېدی شي چې دا څنګه امکان لري چې په اسلامي شریعت کې دې یو شی حلال هم وي او حرام هم ، روا دې هم وي ، ناروا هم ؛ ښکاره ده چې په دې دواړو کې به یو لوری سم او بل ناسم وي نو بیا دواړو لورو ته یو شان درناوی څنګه پاتې کېدی شي ، کوم شی چې یو څوک ناسم بولي هغه ته ناسم ویل اصلي دیانت او حق دی.

ځواب یې دا دی چې په حلال و حرام او روا و ناروا کې مطلق خبره نشته ، ځکه چې د قرآن او سنت د نصوصو او څرګندونو له مخې ځینې شیان په ښکاره ډول حرام دي. لکه سود ، شراب ، قمار ، رشوت او داسې نور. په هغو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه نظره نشته او نه صالحو اسلافو په هغو کې اختلاف کولی شوی او په هغو کې اختلاف کول خو د دین له روښانه او څرګند نص څخه انکار کول دي چې د امت په اتفاق بې لارېتوب او الحاد دی. او څوک چې داسې وکړي له هغه نه د بېزارۍ او خلاصون اعلان کول د ایمان یوه رښتینې تقاضا ده. په هغه کې هېڅ ډول جوړ جاړی هم روا نه دی.

د جوړجاړي دا تلقین او د نظرونو له اختلاف سربېره د خپل مقابل لوري د نظر درناوی کول یوازې په هغو مسایلو کې دی چې یا خو په قرآن او سنت کې په څرګند ډول یاد شوي نه وي یا یاد شوي وي خو داسې په لنډ او ناڅرګند ډول چې د هغی له تفسیر او سپړنې پرته پر هغو عمل نه شي کېدی یا په دوو آیتونو یا دوو روایتونو کې ښکاره ټکر ولیدل شي ، په دې ټولو صورتونو کې مجتهد علما باید په قرآن او سنت او د صحابوو پر عمل د غور او فکر له مخې دا پرېکړه وکړي چې د دې سرچینه او مفهوم څه شی دی او له هغو نه کوم احکام راوځي. په دې صورت کې امکان لري چې یو مجتهد عالم د اجتهاد له اصولو سره سم په قرآن او سنت او د صحابوو پر عمل له غور کولو وروسته دې پایلې ته ورسېږي چې فلانی کار روا دی او بل مجتهد عالم پر همدې اصولو له بشپړ غور او فکر وروسته د هغه ناروا والی صحیح وګڼي. په دې صورت کې دا دواړه د الله تعالی په نزد له اجر او ثواب څخه برخمن او مستحق دي. په هېڅا کوم ډول پړه یا ملامتیا نه راځي. د چا رایه چې د الله تعالی په نزد صحیح ده هغه ته دوه اجره او ثوابونه ورکول کېږي او د چا چې صحیح نه ده هغه ته یو اجر ورکول کېږي. له همدې نه ځینو د علماوو داسې وانګېرله چې په اجتهادي اختلافاتو کې دواړه متضاد قوله حق او صحیح وي. د دې علت دا دی چې الله تعالی بې نیازه ذات دی ؛ له ټولو احکاماتو ، عباداتو او معلاماتو الله تعالی بله موخه نه لري ، پرته له دې چې د بندګانو د اطاعت آزموینه واخلي. کله چې دواړو خپل غور او فکر او د اجتهاد څواک له شرایطو سره سم وکاراوه نو دواړو خپل فرض پر ځای کړ او د دواړو ځوابونه صحیح دي. خو د جمهور امت او د مجتهدو امامانو تحقیق همدا دی چې د الله تعالی په علم کې په دې دواړو کې یو حق او صحیح وي ، نو کوم خلک چې د خپل اجتهاد په ځواک حق ته ورسېږي نو په هر حیثیت بریالي او د دوو اجرونو مستحق دي او څوک چې له خپل وس او کوښښ سربېره تر هغه بریده ونه رسېږي نو معذور ګڼل کېږي او کومه ملامتیا پرې نشته. بلکې د هغوی د هڅې او کار یو اجر هغوی ته هم ورکول کېږي.

## یوه مهمه پېښه - یو مهم ټکی

یوه مهمه کیسه به هم تاسې ته وکړم چې مهمه هم ده او له عبرته هم ډکه ده. په ((قادیان)) کې به هر کال زموږ غونډه کېده او سید مُحَمَّد انور شاه صاحب رح به هم پکې ګډون کاوه. یو کال په همدې غونډه کې مولانا صیب راغی ، زه هم ورسره وم. یوه شپه د سهار د لمانځه پر مهال په تیارې کې د هغوی څنګ ته ورغلم نو ومې لیدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر يې په دواړو لاسونو کې نيولی او په ډېر غم کې ناست دی.

ومې پوښتل: حضرت ، طبيعت مو څنګه دی ؟

ويې ويل: هو ، ښه دی ، د طبيعت څه پوښتنه کوې ، بس ټول ژوند مو ضايع شو.

پوښتنه مې وکړه: حضرت! ستاسې خو ټول ژوند د علم په خدمت او د دين په خپراوي کې تېر شوی. زرګونه زده کوونکي مو عالمان دي ، مشاهير دي چې له تاسې يې استفاده کړې او د دين په خدمت کې لګيا دي. نو که ستاسې عمر ضايع شوی وي نو بيا د چا ژوند په کار کې تېر شوی!؟

ويې فرمايل: زه درته رښتيا وايم ، عمر مې ضايع کړ.

ومې پوښتل: ، حضرت ، خبره څه ده ؟

ويې فرمايل: زموږ د ژوند ، زموږ د ويناوو ، زموږ د ټولو هڅو او کوښښونو لنډيز دا دی چې په نورو مسلکونو باندې حنفي مذهب ته غوراوی او ترجيح ورکړو او د امام ابو حنيفه (رح) د مسايلو لپاره دلايل ولټوو. زموږ د هڅو ، ويناوو او علمي ژوند ټول محور همدا دی.

اوس چې فکر کوم نو ګورم چې په څه شي کې مو خپل ژوند تباه کړ؟ ابو حنيفه (رح) زموږ ترجيح ته محتاج دی چې پر هغه ښېګڼه يا احسان وکړو؟ هغه ته چې الله تعالی کوم مقام ورکړی وو هغه مقام به پخپله خلک غاړې ايښودو ته اړ کړي ، هغه موږ ته هېڅ اړتيا نه لري.

او د امام شافعي ، امام مالک او امام احمد بن حنبل (رحمهم الله) او د نورو مسلکونو د فقهاوو پر وړاندې چې موږ دا غوراوی رامنځته کړی دی ، د دې هر څه ګټه څه ده؟ له دې پرته هېڅ هم نه ، چې زيات تر زيات خپل مسلک ته ((صواب محتمل الخطاء: صحيح مسلک ؛ احتمال لري ، ناسم وي)) او د نورو مسلک ته ((خطاء محتمل الصواب: تېروتی مسلک ؛ احتمال لري ، صحيح وي)) ووايو. هغه ټول بحثونه ، تدقيقات او څېړنې چې موږ پکې بوخت يو له دې نه هاخوا بله کومه پايله نه لري.

بيا يې وفرمايل:

په حشر کې به هم دا راز څرګند نه شي چې کوم مسلک سم وو او کوم ناسم. د اجتهادي مسايلو پرېکړه نه يوازې دا چې په دنيا کې نه شي کېدلی – په دنيا کې هم موږ له خپلو ټولو هڅو او پلټنو وروسته همدا ويلی شو چې دا هم صحيح دی. يا دا چې دا صحيح دی خو احتمال لري چې خطا وي ، او دا خطا دی خو احتمال لري چې صحيح وي. په دنيا کې خو همدا دي ، په قبر کې به هم نکير او منکر دا ونه پوښتي چې رفع اليدين حق وو او که د رفع اليدين پرېښودل حق وو؟ په لوړ غږ آمين ويل حق وو که په ټيټ غږ – په برزخ کې به هم په دې هکله پوښتنه نه کېږي او په قبر کې به هم دا پوښتنه نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت شاه صاحب رح کلمات دا وو:

((الله تعالی به نه امام شافعي رسوا کړي نه امام ابوحنیفه ، نه امام مالک او نه امام احمد بن حنبل ؛ چا ته چې الله تعالی د خپل دین د علم انعام ور په برخه کړی او له چا سره یې چې د خپل مخلوق یوه لویه برخه یو ځای کړې ، چا چې د نبغې لارې رڼا هر لور ته خپره کړې ، د چا چې ژوند د سنت د رڼا په خپرولو کې تېر شوی ، الله تعالی به له هغوی نه یو هم رسوا نه کړي چې د حشر په میدان کې یې ودروي او ترې وپوښتي چې ابوحنیفه سم ویلي وو او که شافعي ناسم ویلي وو یا د دې پرعکس ؛ دا کار به هېڅکله هم ونشي!

نو هغه شی چې نه په دې دنیاکې په ډاګه کېږي ، نه په برزخ او نه په محشر کې ؛ موږ په هغه پسې خپل ټول ژوند بې ځایه تېر کړ. خپل ځواک مو ولګاوه او هغه چې د اسلام صحیح بلنه وه ، ټولو پرې اجماع کړې وه او هغه مسایل چې ټول پرې یوه خوله وو او د دین کومې اړتیاوې چې د ټولو په نزد مهمې وې د کومو دعوت چې انبیاوو راوړی وو ، موږ ته یې د هغو د دعوت د عاملولو امر شوی وو او هغه بدۍ چې له منځه وړل یې پر موږ فرض شوي وو ، نن د هغو بلنه خو نه ورکول کېږي ، د دین پر دې اړتیاوو د خلکو سترګې پټې دي ، خپل او پردي یې بڼه ور بدلوي او هغه بدۍ چې موږ باید د هغو په له منځه وړلو بوخت وی ، ورځ په ورځ خورېږي ، بې لاریتوب زیاتېږي ، الحاد را روان دی ، شرک او بت لمانځنه را روانه ده ، د حرام او حلال تر منځ توپیر له منځه تلونکی دی ، خو موږ لګیا یو په دې فرعي او فروعي بحثونو کې!))

حضرت شاه صاحب رح وفرمایل: ((له همدې غمجن ناست یم او احساس کوم چې خپل عمر مې بې ځایه تېر کړی.))

## که د نېکو اسلافو ترمنځ اختلاف وي، نو خلک څه وکړي!

د همدې ډول اختلافاتو په اړه چې د صحابه کرامو پکې دوه نظرونه وي ، امام اعظم ابو حنیفه رح فرمایي: ((اخذ القولین خطأ والاثم فیه موضوعٌ. ژباړه: په متضادو قولونو کې یوه خطأ ده. خو د دې خطا ګناه بښل شوې ده.))

(جامع بیان العلم: الابن عبد البر ، ج ۲: ص ۸۳)

او له امام مالک نه چې د صحابه کرامو د خپل منځي اختلاف په اړه پوښتنه وشوه نو ویې فرمایل: ((خطأ و صواب فانظر في ذالک. ژباړه: په دوی کې ځینې خطا او ځینې صواب او صحیح دي ، نو عمل کوونکو مجتهدینو ته پکار ده چې غور پکې وکړي او یو لوری پکې غوره کړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام مالک چې په څه ډول په خپل دې ځواب کې دا روښانه کړل چې په اجتهادي اختلافاتو کې یو لوری صواب او صحیح او بل لوری خطا وي دواړه متضاد شیان صواب نه وي ، په همدې ډول دا یې هم وفرمایل چې د صواب او خطا په دې اختلاف کې خپل منځي جګړه او شخړه ناروا ده. یوازې همدومره بسنه کوي چې کوم یو تېروتی وي ، هغه دې په نرمه او خواخوږۍ پر خطا خبر کړي. بیا یې کې هغه ومني نو ښه تر ښه ، که نه نو چوپتیا دې غوره کړي. جنګ او جګړه یا ناوړه خبرې دې نه کوي.

د حضرت امام مالک (رح) د وینا بشپړ متن دا دی: ((کان مالک یقول المراء والجدال فی العلم یذهب بنور العلم من قلب العبد و قیل له رجل له علم بالسنة فهو یجادل عنها قال ولکن لیخبر بالسنة فان قبل منه والاسکت. ژباړه: حضرت امام مالک فرمایي چې: په علم کې جګړه او شخړه د علم رڼا د انسان له زړه نه وباسي. یو چا پوښتنه وکړه چې یو شخص د حدیثو علم لري آیا هغه د سنت د ساتنې په خاطر شخړه کولی شي. ویې فرمایل نه ، بلکې پکار ده چې مخاطب له سمې خبرې خبر کړي ، که هغه یې ومني نو ډېر ښه ، که نه نو چوپتیا دې غوره کړي. له شخړې او جګړې دې ځان وساتي.))

مُحَمَّد بن عبدالرحمن صیرفي (رح) له حضرت امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ څخه پوښتنه وکړه چې کوم وخت چې د صحابه کرامو ترمنځ په یوې مسئلې کې خپل منځي اختلاف وي ، نو آیا زموږ لپاره دا روا ده چې په هغو کې له غور او فکر وروسته پرېکړه وکړو چې په دې کې سم او صحیح قول د چا دی. نو ویې فرمایل: ((لا یجوز النظر بین اصحاب رسول الله ﷺ. ژباړه: د رسول الله ﷺ د صحابوو په اختلاف کې غور او فکر او نظر ورکول جواز نه لري.))

صیرفي رح وویل: نو بیا عمل د چا پر قول وکړو او په څه ډول یې وکړو. ویې فرمایل: ((تقلدایهم شئت. ژباړه: د هر چا دې چې زړه وي اتباع یې وکړه ، همدا بسنه کوي.))

(جامع بیان العلم ج ۲: ص ۸۳)

د مجتهد امامانو په دې اقوالو کې د ابو حنیفه او مالک (رحمهم الله) مسلک دا شو چې کله د صحابه کرامو تر منځ په کومې مسئلې کې اختلاف وي نو وروستنیو فقهاوو ته پکار دي چې پر دلایلو له غور وروسته د چا قول چې سنت ته ډېر نږدې ګڼي غوره دې کړي او د امام احمد (رح) په نزد دې ته هم اړتیا نشته. کله چې دواړو خواوو ته صحابه کرام دي نو د چا قول چې غواړي غوره کولی یې شي.

د حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه او عبد الله ابن مسعود (رض) ترمنځ په یوه مسئله کې اختلاف وو. حضرت فاروق اعظم (رح) چې واورېدل نو په غوسې کې یې دباندې تشریف راووړ او ویې فرمایل افسوس چې د رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ﷺ په اصحابو کې دوه داسې اشخاص پخپل منځ کې جګړه کوي چې د خلکو ورته سترګې دي او خلک ورنه د دين په اړه ګټه اخلي. بيا يې د دواړو د اختلاف پرېکړه په دې ډول وکړه چې: ((صدق ابی کعب رض ولم يال ابن مسعود ژباړه: يعنې صحيح خبره خو د ابی بن کعب (رض) ده خو په اجتهاد کې تېروتنه ابن مسعود رض هم نه ده کړې.

بيا يې وفرمايل خو په راتلونکي کې هېڅوک په دې ډول په مسائلو کې په شخړو اخته ونه وينم ، که نه نو دومره سزا به ورکړم.))

(جامع بيان العلم ج ۲ : ۸۴)

د حضرت فاروق اعظم (رض) له دې وينا نه يوه خبره خو دا ثابته شوه چې په اجتهادي مسايلو او اختلاف کې يو قول صواب او صحيح وي او بل يو که څه هم چې صواب نه وي خو ملامتيا پر هغه هم نشته.

بله خبره دا په ډاګه شوه چې په دې ډول اجتهادي مسايلو کې په خلاف او اختلاف ټينګار کول د علماوو د پيروانو لپاره مناسبه نه ده ، چې له امله يې پر يو بل د ملامتيا يا جګړې او شخړې وېره را پيدا شي.

د امام شافعي رحمه الله له يوې څرګندې وينا راوړلو وروسته ابن عبدالبر رحمه الله وفرمايل چې: د امام شافعي په دې وينا کې دا دليل شته دی چې مجتهدين بايد يو بل تېروتی ونه بولي. يعنې په دوی کې دې يو دې بل ته دا نه وايي چې ته پر غلطه او خطا يې.

(جامع بيان العلم ج ۲: ۷۳)

علت يې دا دی چې په داسې اجتهادي مسائلو کې هېڅوک دا حق نه لري چې خپل قول ته په يقيني ډول صواب او صحيح ووايي او د دويم لوري قول په يقيني ډول خطا او ناسم وبولي. له اجتهاد او پوره غور او فکر وروسته هم چې کومه رايه يې ورکړې د هغې په اړه هېڅوک دا حق نه لري چې ووايي: دا رايه صحيح او صواب ده خو د خطا او ناسموالي احتمال هم پکې شته دی او کېدی شي چې د دويم لوري قول صحيح او صواب وي.

لنډه يې دا چې په اجتهادي اختلافاتو کې د جمهورو علماوو په نزد د الهي علم په اعتبار په دوو بېلا بېلو رايو کې حق او صحيح خو يوازې يوه وي خو دا ټاکل چې په دې کې کومه يوه يې حق ده ، د هغه يقيني وسيله له هېڅا سره هم نشته. دواړو لورو ته د خطا او صواب احتمال شته دی. مجتهد په خپل غور او فکر يوه خوا ښه ګڼي او د عمل کولو لپاره يې غوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوه ارزښتمنه وینا

((استاذ الاساتذه سیدي حضرت مولانا سید محمّد انور شاه کشمیري رحمه الله)) د ((دارالعلوم مدرسې)) مدرس یو ځل وفرمایل چې: په اجتهادي مسایلو او د هغو په اختلاف کې چې موږ او عام علما اخته یو او د علم ټول ځواک پر همدې لګوو ، په هغو کې د سم او ناسم پرېکړه به په دنیا کې څه ، زما په ګمان په محشر کې هم اعلان نه شي. ځکه کله چې عزتمن رب په دنیا کې یو مجتهد امام له تېروتنې سره سره په یوه اجر او ثواب نازولی دی او د هغه پر تېروتنې یې پرده اچولې نو د هغه عزتمن ذات له رحمت نه دا ډېره لرې ده چې په حشر کې له خپلو نږدې بندګانو څخه د یو چا د تېروتنې اعلان وکړي او رسوا یې کړي.

د دې پایله دا ده چې په کومو مسئلو کې چې د صحابوو ، تابعینو او مجتهدو امامانو تر منځ نظري اختلاف شوی دی ، د هغې قطعي پرېکړه نه دلته کېږي او نه په آخرت کې ؛ ځکه د عمل کوونکو لپاره په هغوی کې په هرې رایې د خپل ترجیح له مخې عمل کول روا کړی شوي دي. او چا چې له هغه سره سم عمل وکړ د هغه غاړه له فرضو نه خلاصه شوه. هغه د امت په اجماع د فرضو پرېښوونکی نه شي بلل کېدی. په دې مسئلو کې چې یو عالم هر څومره څېړنې وکړي. دا ممکنه نه ده چې د هغه څېړنې ته یقیني حق او ثواب وویلی شي او مقابل یې باطل وګرځولی شي. د حدیثو امام ((حافظ شمس الدین ذهبي رح)) فرمایلي دي چې په کومو مسئلو کې چې د صحابوو او تابعینو ترمنځ اختلاف شوی ، هغه اختلاف د قیامت تر ورځې له منځه نه شي وړل کېدی. ځکه د دې اختلاف د له منځه وړلو یوازینۍ لاره دا ده چې په دوی کې یوه ډله په پرېکنده ډول حق او بل لوری په یقیني توګه باطل وګڼل شي او دا امکان نه لري.

## د مجتهدو امامانو په اختلاف کې یو لوری هم منکر نه وي

له پورتنیو څرګندونو دا روښانه شوه چې په کومه مسئله کې صحابه ، تابعین او مجتهد امامان اختلاف ولري ، د هغوی یو لوری به هم د شریعت له مخې منکر نه ګڼل کېږي. ځکه چې د دواړو رایو اساس قرآن او سنت او د هغو سالم اصول دي. د همدې لپاره دواړه لوري پر سمه دي. زیات تر زیات دا ویلی شو چې یو لوری پکې راجح او بل لوری مرجوح دی. ځکه نو په هغو مسئلو کې چې اجتهاد ته پکې اړتیا وي په نېکیو امر او له بدیو د منع کولو دنده په هېڅ لوري نه لازمېږي ، بلکې د غیر منکر نکیر کول پخپله منکر دی. همدا علت دی چې د صالحو اسلافو په زیات شمېر مسایلو کې په روا او ناروا او حرموالي او حلالوالي باندې د اختلاف سربېره هېڅ ځای کې نه دي راغلي چې په هغوی کې دې یوه دا بل کس داسې رټلی وي لکه منکرات چې رټل کېږي ؛ یا دې یوه بل ته ، یا یوه لوري دې د بل لوري پیروان بې لارې یا د فسق او فجور لور ته منسوب کړي وي یا یې د فرایضو د پرېښودو او یا د حرامو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ترسره کولو مجرم ګڼلي وي. حافظ ابن عبد البر چې د امام شافعي رحمه الله کوم قول نقل کړی دی هغه هم په دې ګواه دی چې فرمايي: د يوه مجتهد بل مجتهد تخطيه کول – يعنې تېروتی او مجرم ګڼل – ناروا ده.

## د اجتهاد شرايط

هلته چې امام شافعي رحمه الله د مجتهدينو ترمنځ د يو بل خطا ګڼل ناسم بللي ، ورسره يې د هغه يو معقول علت او شرط هم راوړی دی:

د هغه رحمه الله د قول متن دا دی: ((و فی هذا من قول الشافعي رح دليل على ترک تخطئة المجتهدين بعضهم لبعض اذ کل واحد منهم قد ادّى ما کلّف باجتهاده اذا کان ممن اجتمعت فيه آلة القياس وکان ممن له ان يجتهد و يقيس. (جامع العلم ص ۳ ج ۲). ژباړه: د امام شافعي په کلام کې د دې خبرې دليل شتون لري چې يو مجتهد دې بل مجتهد تېروتی نه بولي ځکه دوی دواړو هغه فرض چې پر غاړه يې وو ترسره کړی دی. يعنې د هغوی د اجتهاد او قياس شرايط شتون ولري او نوموړي د اجتهاد د خاوندانو په نزد د اجتهاد او قياس حق ولري.))

له دې نه په ډاګه شوه چې د دوو مختلفو رايو دا درناوی چې په هغوی کې دې هېڅ يوه ته منکر ونه ويلی شي او د هغوی منونکو ته دې تېروتي نه ويل کېږي ، يوازې په هغه صورت کې صحيح دي چې صحيح اجتهاد د هغه له شرايطو سره سمون وخوري. د نن سبا د جاهلانه اجتهاد په څېر نه وي چې عربي ژبه يې سمه زده نه وي ، له قرآن او حديث سره يې هېڅ اړيکه نه وي او د پښتو او دري ژبو د ژباړو پر مټ يې پر قرآن او حديث تمرين پيل کړی وي. داسې اجتهاد پخپله يوه لويه ګناه ده او له هغه څخه اخيستل شوې رايې يوه بله ګناه ، بې لارې ، خلاف او بد مرغۍ ده چې منکرول يې واجب دي.

## د سنت او بدعت په لانجه کې غوره تګلاره

زموږ په ټولنه کې د مذهب په نوم يو اختلاف هغه هم دی چې د سنت او بدعت په عنوان را پيدا شوی چې زياترو خلکو د قرآن او سنت په تعبير کې صحيح اصولو ته شا اړولي او د خپلې ګېډې نظرونه يې اساس ګرځولي او نوي نوي مسايل يې را پيدا کړي دي. دا ډول اختلافات پرته له شکه چې هغه تفرق او بېلتون دی چې قرآن او سنت مسلمانان ترې وېرولي دي. د هغو له منځه وړل يا يې د راکمولو هڅه بې له شکه چې ګټور کار دی ، خو قرآن کريم د دې هم يوه ځانګړې لاره راښودلې چې په وسيله يې د تفرق لمنه را ټنګه او لا پراخه نه شي. دا هماغه د ښېګڼې په لور د بلنې اصول دي چې له هر څه نه وړاندې پکې د حکمت او تدبير بيا خواخوږۍ او زړه سواندۍ او د يوه خوږ سرليک په وسيله د قران کريم د صحيح مفهوم په لور د رابللو لارښوونه شوې او په پای کې د ((مجادله بالتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هي احسن – يعنې په حجت او دليل سره د پوهولو او پوهېدو)) هڅه شوې وي. خو افسوس چې نن ټولو عامو او خاصو علماوو او مصلحينو دا اصول له پامه غورځولي دي. يوازې په شخړو کې هغه هم په غير مشروط ډول بوخت شوي او د خپل سيال د استهزا او تمسخر او د هغه د را لاندې کولو لپاره يې د رښتيا او درواغو ، روا او ناروا چلونو کارول غوره کړي. چې په پايله کې د جنګ او جدال بازار خو تود شوی ، مګر د خلکو د اصلاح اړخ پکې نه ليدل کېږي.

## د امت د افتراق اسباب

خپله سريزه مې په دې اوږده کړه او ځرګند پرې وغږېدم چې د مسلمانانو د دين پالو او اصلاح غوښتونکو او د ديني فعاليتونو د ترسره کوونکو طبقو تر منځ چې کوم ښېلتون ليدل کېږي ، عموماً هغه د همدې حقايقو د له پامه غورځولو پايله ده.

اوس به هغه اسباب او عوامل وړاندې کړم چې زما د فکر او غور تر حده د مسلمانانو تر منځ د خپل منځي شخړو ، ښېلتون او جګړو علت شوي دي او افسوس خو دا دی چې نن ورځ دا کړنې د دين د يوه خدمت په توګه ترسره کېږي.

غلو: زما په نزد د دې جګړو او شخړو يو لوی او ستر علت په څنګيزو او اجتهادي مسايلو کې تعصب او چلبازي او د خپلې تګلارې خلاف تګلاره عملاً باطل او ګناه ګڼل او د مخالفې تګلارې له عمل کوونکو سره داسې چلند کول چې د باطل پالو او بې لارو سره بايد ترسره شي ، دی. په دې د ټول امت اتفاق هم دی او د عقل له پلوه له دې پرته پر دين د عمل کولو هېڅ کوم صورت هم نشته ، چې کوم خلک پخپله د اجتهاد وړتيا نه لري ، په اجتهادي مسايلو کې د کوم مجتهد امام اتباع وکړي او کومو خلکو چې د خپلې نفسي خپلواکۍ او هوا پرستۍ د مخنيوي لپاره د يوه ديني مصلحت په توګه د مجتهد امام اتباع کړې ، طبيعي ده چې هغوی د شمېر په زياتېدو يوه ډله ګرځي ، په همدې ډول د بل مجتهد پيروان يوه بله ډله ګرځي. که ډلبندي په مثبته بڼه ، يوازې تر اجتهادي مسايلو ، د خپلو ښوونيزو او عملي اسانتياوو لپاره وي نو نه کوم باک لري ، نه د ملت د تفرقې سبب کېږي او نه هم ملت ته ترې کوم زيان رسېږي.

زيان رسوونکی او تباه کوونکی منفي اړخ يې دا دی چې د خپلې رايې او تګلارې له مخالفينو سره جنګ او شخړه وشي او دوهم منفي اړخ يې دا دی چې د هغو څنګيزو مسايلو په بحثونو کې غلو وشي چې د ټول علم او تحقيق ځواک او د بحث او دليل قوت او د ژوند ګرانبيه وختونه په همدې بحثونو کې لاهو کړی شي ؛ که څه هم د ايمان او اسلام اساسي او پرېکنده اجماعي مسايل زيان ويني او دغه راز کفر او الحاد خپور شي. خو دې ټولو ته له پام

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته زموږ علمي بوختیاوې یوازې همدا فروعي بحثونه وي چې په اړه یې تاسې په پورتني تفصیل کې پوه شوئ چې په هغو کې له زرهاوو څېړنو وروسته هم خبره له دې نه هاخوا نه ځي چې دا راجح دی او خلاف یې مرجوح او د دې راجح او مرجوح غوځه پرېکړه نه په دنیا کې کېدی شي ، نه به یې په برزخ کې پوښتنه وشي او نه به یې د حشر په میدان کې د راجح او مرجوح اعلان وشي.

دغه راز نه له دې مسایلو سره د اختلاف کوونکو منکرول صحیح کار دی او نه یې خطا کاره بلل صحیح دي. په دې وخت کې زموږ د قوم د علماوو او فقهاوو یو سپېڅلی پوړ چې په ځانګړي ډول په ښوونه او تصنیف کې بوخت دی ، که د هغوی د شپې او ورځې بوختیاوې وڅارل شي نو د زیاترو حضراتو د علمي څېړنو ، هلو ځلو او کار ټوله وړتیا به تر همدې څنګیزو بحثونو پورې محدوده ترسترګو شي.

## د فکر شپېه

په دې مسایلو کې د ځینو غلو خو تر دې کچې رسېدلې چې د خپلو مخالفینو لمونځ فاسد او هغوی ((تارک قرآن — قرآن پرېښودونکي)) ګڼي او د خپل ځانګړي مسلک په لور ورته په داسې ډول بلنه ورکوي ،  لکه له اسلام څخه یوه منکر ته چې د اسلام بلنه ورکول کېږي. او همدا بیا د دین تر ټولو ستر خدمت هم ګڼي.

معلومه نه ده چې دا خلک د اسلام پر بنسټونو له څلورو خواوو څخه له یرغلګرو توپانونو ناخبره دي او که له رضا ځان تېروي. په دې وخت کې چې یو خوا ښرګند کفر یعنې عیسویت او کمیونیزم له ټولو اسلامي هېوادونو او اسلامي کړیو راچاپېر دی او دا دواړه کفره په توپاني چټکتیا په اسلامي هېوادونو کې خپرېږي ، یوازې په پاکستان کې د زرګونو په شمېر خلک هر کال مرتد کېږي ؛ بل خوا کفر ، نفاق او الحاد پخپله د اسلام تر نامه لاندې چېرته د قادیانیت او مرزایت په جامه کې ، چېرته د پروېزیت او له حدیثو څخه د منکرینو تر سرلیک لاندې ، چېرته له لویدیځ څخه د راوړي اباحیت او د ټولو شرعي محرماتو د حلال ګڼلو له لارې زموږ پر ایمان یرغلونه کوي او دا الحاد ، کفر او نفاق له مخکیني کفر څخه ځکه زیات خطرناک دی چې دا کفري عناصر د اسلام او قرآن تر سرلیک لاندې راځي چې په لومه کې یې زموږ سیده ساده ناپوهه ولس خو پرېږده نوي تعلیم یافته ځوانان مو هم په زیات شمېر ځکه پکې ښکېل شي چې ګواکې نوي تعلیم او نوي معاشرت دوی له دیني تعلیم او اسلامي اصولو دومره لرې کړي دي چې د مادي علومو او فنونو د ماهر کېدو سربېره د مذهب او دین له لومړنیو معلوماتو هم بې برخې دي او اوس غواړي له همدې لارې پر دین ځان پوه کړي. د پټ او ښرګند کفر له دې ټولو ډولونو څخه که ځینې نېکمرغه مسلمانان وژغورل شي نو فحاشي ، بربنډتوب ، لوڅې ګډاوې ، د نڅا او سندرو محفلونه او په کور کور کې د راډیو له لارې د فلمي سندرو او د سېنما له زهرجنې فضا څخه څوک داسې شته چې ترې خوندي پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام او قرآن په نوم نن ورځ مسلمانان په ډول ډول سرغړونو او بد اخلاقیو کې ډوب دي. زموږ بازارونه له درواغو ، دوکې ، سود او قمار نه ډک دي ، او د هغو چلوونکي یهودیان نه دي ، هندوان نه دي ، د اسلام نوماندان دي. زموږ له دولتي ادارو د رشوت ، ظلم او زیاتي ، له کار نه د تېښتي ، بې رحمۍ او سخت زړۍ روزنیز مرکزونه ګرځېدلي دي او د هغوی کارګران انګرېزان یا هندوان نه دي ، د مُحَمَّد مصطفی ﷺ نوم اخیستونکي او د آخرت پر ورځ د ایمان دعوا کوونکي دي. زموږ ولس د دین له علم څخه ړوند ، په تیارو کې ډوب ، د دین له فرایضو او واجباتو ناخبره ، د مشرکانه دودونو او ساعت تېریو خوښوونکي دي.

ای بســـــــــــــرا پرده یثرب بخواب
خیز 1 که شد مشرق و مغرب خراب

په دې حالاتو کې آیا پر موږ واجب نه دي چې له غور او فکر څخه کار واخلو او فکر وکړو چې په دې وخت کې د رسول کریم ﷺ غوښتنه او تمه به له علماوو څخه څه وه؟ او که د محشر په ورځ هغه مبارک ﷺ له موږ نه وپوښتل چې زما پر دین او شریعت دا ډول یرغلونه کېدل ، زما امت په دې بد حالۍ ککړ وو ، تاسې د نبوت د وراثت ادعا کوونکي چېرته وئ؟ تاسې د هغه وراثت څه حق ادا کړی؟ نو آیا زموږ دا ځواب به بسنه وکړي چې موږ پر رفع الیدین (د لاسونو د اچتولو پر مسئلې) یو کتاب لیکلی یا ځینې زده کوونکي مو د ((شرح جامي)) د کتاب په یوه بحث ((حاصل او محصول)) ښه پوه کړي ، یا په احادیثو کې پر شته اجتهادي مسایلو مو ډېرې په زړه پورې ویناوې کړې دي یا د قلم د ژورنالیستکي ځواک او لیکوالۍ په وسیله مو نور علما او فاضلان ښه ذلیل کړي دي.

په فروعي او اجتهادي مسایلو کې بحث او تمحیص که څه هم مذموم کار نه دی ، که چېرته د خپل ټاکلي چوکاټ دننه په اخلاص سره د الله تعالی لپاره کېدی. خو چېرته چې د اسلام او ایمان د بنسټونو لړزوونکو فتنو خبرونه اورو ، د الله او رسول ﷺ له احکاماتو سرغړونې بلکې پرې ټوکې او رشخند پخپلو سترګو وینو او په غوږونو یې اورو خو پر موږ د ذرې هومره تاثیر هم نه کوي نو د دې تمه څنګه کېدی شي چې موږ دا څنګیز بحثونه په اخلاص سره د الله تعالی لپاره کوو. که په هغو کې څه للهیت او اخلاص وی نو موږ به د هغو حالاتو له مخې د اسلام او دین غوښتنې پېژندی او له فروعاتو څخه زیات د اسلام د اصولو په خوندي کولو به لګیا وی. موږ ګواکې علمي او دیني خدمتونه په همدې فروعي مبحثونو کې ایسار کړي دي او د کار او کوښښ ټوله وړتیا او انرژي مو پر همدې لګولې ده. د اسلام اصولي او بنسټیز مسایل او د ایمان پولې مو د دښمنانو د یرغلونو لپاره تشې پرې ایښې دي.

---

[1] له حضور سرور کونین (زما مور او پلار دې ترې ځار شي) ته په دې انداز خطاب یوازې تاویلاً روا بلل کېدی شي او کله چې یو موحد خپل الفاظ کاروي نو له هغه مراد د مرستې غوښتنه یا استغاثه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ مو باید پر کوم مورچل کړی وی او ځواک مو پر کوم مورچل ولګاوه. انا لله وانا الیه راجعون. دا خو په جګړو او تعصب کې د غلو پایله ده.

د همدې ترځنګ بله لویه تېروتنه په اجتهادي مسایلو کې د اختلاف د پولو ماتول او تر تفرق ، بېلتون ، جنګ او جګړو او له یو بل سره تر ټوکو او رشخند پورې رسېدل دي چې په هېڅ شریعت او ملت کې هم روا نه ده. او افسوس دا دی چې دا ټول د دین د علم د خدمت په توګه ترسره کېږي او کله چې دا معامله د دې علماوو تر پیروانو پورې ورسېږي نو هغوې جګړې ته د جهاد په سترګه ګوري او جنګ کوي او دا ښکاره ده چې د کوم قوم جهاد چې له خپل لاس او متو سره وي له هغه سره به د دښمن د دفاع او له کفر او الحاد سره د جنګ فرصت چېرته وي.

په قرآن او حدیث کې له پولو څخه د همدې تېري نوم تفرق دی چې په رایو کې له نظر اختلاف څخه یو بېل شی دی ، په قرآن کریم کې یو ځای راځي: ((واعتصمو بحبل الله جمیعا ولا تفرقوا)) بل ځای د الله تعالی له لوري د یوې سپارښتنې یادونه ده چې پخوانیو ټولو انبیاوو ته شوې ده. د هغې سپارښتنې الفاظ دا دي: ((ان اقیموا الدین ولا تتفرقو فیه.)) د تفسیر امام ((ابو العالیه رح)) فرمایي چې د دین له اقامت نه مراد اخلاص دی او د ((لا تتفرقو)) معنا دا ده چې په خپلو منځونو کې دښمني مه پالئ او ورور ګلوي وکړئ.

له دې سپارښتنې وروسته قرآن کریم د بني اسرائیلو د تفرق له بیانولو وروسته د اسلام خاوندانو ته خبر ورکړی چې د هغوی په لاره دې نه ځي. الله تعالی فرمایي: ((وما تفرقوا الا من بعد ما جاءهم العلم بغیا بینهم.)) حضرت ابو العالیه (رح) د دې آیت په تفسیر کې فرمایلي دي چې د ((بغیا بینهم)) کلمې کې دې ته اشاره ده چې داسې اختلافات هېڅکله د دین له امله تر دښمنۍ ، جنګ او جګړې نه رسېږي ، بلکې ((بغیا علی الدنیا و ملکها و زخرفها وزینتها و سلطانها.))

(جامع العلم ص ۸۴ ج ۲)

یعنې هر کله چې غور وکړو نو د دې دښمنۍ سبب د دنیا د مال ، دارایي او مقام مینه وي چې نفس او شیطان د دین د خدمت سرلیک ورکوي او انسان ته یې ښایسته ګرځوي ، که نه په دې ډول مسایلو کې د رایې د اختلاف برید هماغه دی چې مخکې بیان شو ، چې په مثبت ډول د خپل عمل لپاره یو لوری صحیح وګڼي او هماغه لاره غوره کړي او د دې لارې په خلاف د نورو مسلکونو له پیروانو سره جګړې ونه کړي. کټ مټ هماغسې لکه یو انسان چې کله ناروغه کېږي او د خپلې درملنې لپاره کوم حکیم یا ډاکټر غوره کوي ، نو یوازې د هغه په خبره باور کوي او یوازې د هغه پر لارښوونه عمل کوي. خو نورو ډاکټرانو ته بد رد نه وایي. تاسې یو شخص خپل وکیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وټاکئ او خپله قضیه ور وسپارئ خو له نورو وکیلانو سره جنګ او جګړې نه کوئ. په اجتهادي او اختلافي مسایلو کې مو هم تګلاره باید همدا وي.

## د دیني ډلو غلو

زموږ دیني ډلې چې د دین د ښوونې ، لارښوونې ، پند او نصیحت یا د بلنې او تبلیغ او د ټولنې د رغونې لپاره رامنځته شوې او په خپل خپل ځای ګټور کارونه هم ترسره کوي. په هغو کې زيات شمېر علما ، نېکان او مخلص کسان کار کوي. که همدوی یو ځای شي او د کار د وېش پر بنسټ په دین کې د راټوکېدونکو ټولو خنډونو د له منځه وړلو په اړه فکر او د امکان تر حده له یو بل سره مرسته وکړي او د دین د اقامت د مشترکې موخې په پار هره ډله بله ډله خپل لاس او مټ وګڼي او د نورو د کارونو همداسې درناوی وکړي لکه څرنګه چې د خپلو کارونو يې کوي ، نو دا مختلفې ډلې په خپل خپل نظام کې جلا جلا هم د اسلام یو ستر ځواک ګرځېدی شي او د ګډ کار په وسیله یو لوی شمېر دیني اړتیاوو ته ځواب ویلی شي.

خو په عموم کې دا کېږي چې هرې ډلې د خپلو هڅو او کارونو لپاره چې کوم چارچوکاټ او تګلاره جوړه کړې وي ، په عملي توګه داسې ښکاري چې هغوی د دین خدمت په همدې چارچوکاټ کې منحصر ګڼي ، که څه هم په ژبه يې نه وايي. که له نورو ډلو سره جنګ او شخړه هم نه وي ، نو سپکاوی خو يې خامخا تر سترګو کېږي. په پایله کې په دې ډلو کې هم یو ډول بېلوالی رامنځته شي. له غور کولو د دې علت دا په ډاګه کېږي چې که څه هم چې موخه د ټولو د دین خپراوی ، ساتنه او د مسلمانانو علمي ، عملي او اخلاقي رغونه ده ، خو د دې موخې د لاسته راوړو لپاره چا یو دارالعلوم جوړ کړ او د دین خدمت يې ترسره کړ ، چا یوه تبلیغي ډله جوړه کړه او د فلاح او لارښوونې فرض يې پر ځای کړ ، چا کومه ټولنه جوړه کړه چې د دین د احکامو د خپراوي لپاره د لیکنې او چاپ کارونه وکړي. چا د فتواوو په وسیله د خدای مخلوق ته د اړینو احکامو د ښودلو لپاره دارالافتاوې جوړې کړې. چا د اسلام پر خلاف د ملحدانه شعارونو د ځواب لپاره د لیکنو یا اوونیزو یا میاشتنیو رسالو یا ورځپاڼو لړۍ روانه کړه ، دا کارونه که څه هم چې په بڼه کې له یو بله بېل ښکاري ، خو په حقیقت کې د یوې موخې بېلا بېلي برخې او اجزاوې دي. پر دې مختلفو مورچلونو به چې کومې مختلفې ډلې کار کوي دا مهمه ده چې د هر یوه د کار تګلاره به بېله وي د همدې لپاره هرې ډلې د خپلې هوساینې لپاره د خپل خپل طبیعت او چاپېریال سره سمه تګلاره او د هغه اصول او قواعد پنځولي دي او هره ډله د هغو پابنده ده. دا ښکاره ده چې آره موخه خو له نص او په قطعي ډول له قرآن او سنت څخه ثابته ده ، له هغه څخه مخ اړول د قرآن او سنت له بریدونو اوښتل دي خو دا خپله جوړه کړې تګلاره او د هغې اجرایوي اصول او قواعد نه منصوص دي ، نه يې اتباع د شریعت له مخې د هر چا لپاره ضروري ده ، بلکې د ډلې مسؤلینو د کار د اسانتیا لپاره غوره کړي دي. په هغو کې د اړتیا له مخې بدلونونه هغوی پخپله هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او د حالاتو او چاپېریال د بدلون له امله پخوانۍ تګلاره پرېښودل او نوې تګلاره جوړول هم د چا په نزد ناروا یا مکروه نه ده ، خو په دې کې علمي غلو کابو په هرې ډلې کې لیدل کېږي چې خپلې تګلارې ته یې د منصوص موخې درجه ورکړې ده.کوم شخص چې په دې تګلاره کې ګډون نه لري ، که څه هم چې د دې موخې هر څومره ستر کار کوي ، هغه خپل ورور او د خپل کار شریک نه بولي. او که کوم څوک په دې تګلاره کې یو وخت وو بیا د کوم علت له امله یې ګډون ونه شوی کولی نو عملاً هغه له اصلي موخې او دین څخه بې لارې ګڼل کېږي او هماغه چلند ورسره کېږي چې باید له دین څخه له مخ اړوونکي سره وشي ، که څه هم د اصلي موخې یعنې د دین د اقامت خدمت له مخکې څخه زیات وکړي. د دې غلو په پایله کې هماغه جګړې او تعصب او د ډله بازیو اپتونه په ښو دینداره خلکو کې راپیدا شي چې د جاهلیت په عصبیتونو اخته خلکو کې لیدل کېږي.

## د پیغمبرانه دعوت له پامه غورځول

زموږ د تبلیغ ، بلنې او رغنیزو هڅو د خنثی کولو لپاره د تفرقې او د جنګ او جګړې د کندې د لا ژورولو لپاره تر ټولو زیات لاس د دې دی چې د نن ورځې ژبورو او قلم ښښتنه علماوو په عموم کې د پیغمبر ﷺ د بلنې او اصلاح تګلارې له پامه غورځولې دي او ژورنالیستیکي ژبه او د جملو رنګیني د خبرو د وزن د زیاتوالي او اغېزمنتیا وسیله ګڼي. او تجربې او کتنې دا په ډاګه کړې چې دا یوه داسې سپېره او بدمرغه لاره ده چې له دې نه د خطاکار یا د بې لارې د اصلاح تمه خو هېڅکله نه شي کېدی. دا تګلاره هغوی پر خپل ضد او سرزورۍ نور هم کلک او پیاوړي کوي او د اصلاح پر ځای یې په زړونو کې د دښمنۍ تخم کري او د دښمنۍ اور لا لمبور کوي.

هو ، د خپلو پیروانو او معتقدینو لپاره د لنډ وخت تفریحي توکي خامخا وي او د هغوی په شاباسي ورکولو لیکوالان دا ګڼي چې ګنې د دین ډېر ښه خدمت یې کړی دی.

خو هغه چې د دې مضمون مخاطبین وي ، د هغوی له زړونو وپوښتئ چې که کوم وخت هغوی د هغې خبرې په حقانیت ډاډه هم شي ، نو د لفاظۍ ، مسخرې او رشخند دا طریقه د هغوی پر وړاندې د حق خوا ته د راتلو خنډ نه ګرځي ؟ او آیا هغوی د تل لپاره د دې داعي (بلونکي) دښمنان نه ګرځوي ؟

## د پیغمبرانه بلنې څلور عناصر

د دې په مقابل کې د الله تعالی د رسولانو او پیغمبرانو د دعوت او بلنې تګلارې ته که وکتل شي نو د هغوی کلمات ساده ، خو د پوهې وړ ، له انساني خواخوږۍ ډک او نرم وي. هغوی د مخالفینو د زښتو او بدو خبرو په اورېدو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساده او خوږ ځواب ورکوي ، خبرې نه ورغبرګوي ، په زړه کې يې د خواخوږۍ ولولې وي چې په څه ډول حق خبره پرې ومني. له همدې امله تدبير يې د حکمت په ګانه سنبال وي.

د پيغمبرانه بلنې روح د قرآن له يوې کلمې ((نذير)) نه څرګنديږي چې د هر پيغمبر لپاره په قرآن کريم کې کارول شوې ده.

په قرآن کريم کې ځای ځای پيغمبرانو ته ((بشير)) او ((نذير)) ويل شوي. په پښتو ژبه کې ((نذير)) وېروونکي ته ويل کېږي. خو د وېروونکي کلمه د نذير بشپړ مفهوم نه راټولوي. د پښتو ژبې د تنګسيا له امله دا معنا ورته غوره کړی شوې ده. حقيقت دا دی چې وېرول بېلا بېلي بڼې لري. د غل او چپاول کوونکي وېرول هم وي. د داړونکي حيوان او دښمن وېرول هم وي او يو زړه سواندی پلار هم خپل زوی له مار ، لړم ، زهرو او اور څخه وېروي ، لومړی ډول يې يوازې تخويف دی ، انذار يا نذارت نه دی. غل ، چپاول کوونکي ، دښمن او داړونکي ته وېروونکی نه ويل کېږي خو دوهم ډول وېرول چې د مهربانه پلار له خوا وي ، د مينې او خواخوږۍ پر بنسټ وي. له زيان راوړونکو او ضرري شيانو څخه وېروونکي ته ((نذير)) ويل کېږي. د انبياوو عليهم السلام لپاره د ((نذير)) کلمې راوړلو موخه د هغوی د بلنې او ښوونې د روح لور ته اشاره ده. دوی يوازې کوم پيغام نه رسوي ، بلکې په حکمت ، خواخوږۍ او خير غوښتنې د خپل پيغام د اغېزمن کولو او له هلاکت څخه د مخاطب د ژغورلو تدبير او هڅه هم کوي.

په قرآن کريم کې د پيغمبرانه بلنې کوم اصول چې په يوه آيت کې راغلي دي ، هغه ګواکې د نذير د کلمې شرحه دي. الله تعالی فرمايي: ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ. په دې آيت کې د الله لور ته د دعوت په ادابو کې تر ټولو مخکې ((بالحکمة)) راغلی دی چې مطلب يې دا دی چې د داعي (بلونکي) دنده يوازې د خلکو تر غوږونو د يوه پيغام او وينا رسول نه ده ، بلکې په حکمت او تدبير مناسب وخت او وړ ځای ته په پام سره بايد په داسې عنوان يې ورسوي چې د مخاطب لپاره يې منل اسانه شي.

دويم شی ((موعظت)) دی چې معنا يې په خواخوږۍ او خير غوښتنې يو چا ته د يوه ښه کار بلنه ده. له دې نه دا په ډاګه شوه چې د داعي لپاره مهمه ده چې کله يوه خبره کوي ، نو د خواخوږۍ او خيرغوښتنې له جذبې سره يې وکړي. له موعظت سره دريم شی د ((حسنة)) قيد دی. په دې کې اشاره دې ته ده چې عنوان بايد نرم او زړه راښکونکی وي ، ځکه چې ځينې وختونه په سوچه همدردۍ او خير غوښتنې يو څوک د ښېګڼې لور ته رابلل کېږي خو عنوان ، لهجه او طرز يې زړه دردوونکی وي ، نو ځکه هغه بلنه هم اغېزمنه نه وي. د همدې لپاره له موعظت سره د ((حسنة)) قيد راوړل شوی دی. لنډه دا چې دې آيت د پيغمبرانه بلنې په ادابو کې درې څيزونه اړين وګرځول: لومړی حکمت او تدبر ، د هغه کار لپاره بلنه بې ګټې نه شي بلکې مؤثره وي. دوهم ، په خواخوږۍ او خير غوښتنې د نېک کار لور ته بلنه. دريم ، د بلنې عنوان ، لهجه او ښه خوږه او د منلو وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې څلورم شی دا ښودل شوی چې که د بلنې د ادابو له پرځای کولو سربېره هم بلنه ونه منل شوه او خبره تر شخړې ورسېږي نو بیا شخړه باید په عامیانه انداز کې نه وي ، بلکې په ((بالتي هی احسن)) ، یعنې په ښه ډول وي. ابن کثیر (رح) د دې آیت په تفسیر کې فرمایي: ((برفق ولین و حسن خطاب)) یعنې مجادله او بحث دې هم په نرمۍ ، خواخوږۍ او غوره خطاب سره وي او په تفسیر مظهري کې راځي چې ((مجادلة بالتی هی احسن)) دا ده چې په هغې کې خپله غوسه سړول یا د خپل نفس لویوالی په پام کې نه وي ، باید خاص د الله تعالی لپاره او د حق کلمې د لوړولو لپاره وي ، او ((مجادلة بالتی هی احسن)) یوازې د مسلمانانو لپاره نه ، بلکې که له کافرانو سره هم که خبره تر شخړې ورسېده نو په هغې کې هم انبیاوو علیهم السلام ته همدا لارښوونه شوې ده. الله تعالی فرمایي: ((ولا تجادلو اهل الکتاب الا بالتی هی احسن)) یعنې که له اهل کتابو سره د مجادلې یا شخړې نوبت راغی ، نو هغه هم باید چې په ((بالتي هی احسن)) ، یعنې په نرمۍ ، خواخوږۍ او غوره خطاب ترسره شي.

## د انبیاوو (علیهم السلام) سپېڅلې تګلاره

د انبیاوو علهیم السلام د بلنې او اصلاح کیسې چې په لوی شمېر په قرآن او حدیث کې راغلې ، په هغو کې یوې یوې ته که وګورو نو د ټول ژوند هڅې به یې پرهمدې تګلاره ومومئ.

حضرت نوح علیه السلام پنځوس یا سل کاله نه ، بلکې نهه سوه کاله چې کوم قوم ته بلنه ورکوله او په خواخوږۍ او خیر غوښتونکي انداز یې پوهول ، خو کله چې د هغه علیه السلام قوم د سختۍ او بې تهذیبۍ ښکارندویي وکړه ، هغه یې بې عقل وباله نو تاسې پوهېږئ چې د خدای دې ګران پیغمبر څه ځواب ورکړ ((یقوم لیس بی سفاهة ولکنی رسول من رب العالمین. ژباړه: زما ورونو په ما کې کومه ناپوهي نشته بلکې زه د رب العالمین لخوا ستاسې د ښېګڼې لپاره رسول استول شوی یم.))

د سرور کاینات رسول اکرم ﷺ ټول ژوند د همداسې پېښو شاهد دی. د هر ډول کړاوونو له زغملو وروسته هم له ظالمانو څخه د غچ اخیستلو یادونه خو پرېږده ، د خیر دعاګانې به یې ورته کولې. ((اهد قومی انهم لا یعلمون — یاالله زما قوم ته هدایت وکړه ، ځکه هغوی نه پوهېږي.))

کومو علماوو ته چې د انبیاوو د وراثت یو څه برخه رسېدلې ، د هغوی ټولو هم په دعوت او تبلیغ کې همدا تګلاره وه. په وروستیو وختونو کې د حضرت سید اسماعیل شهید رحمه الله یوه واقعه ده چې د دهلي له جامع جومات څخه له وعظ وروسته دباندې راوت نو د جومات په زینو کې ځینو لوچکانو د هغه مبارک لاره ونیوله او ورته ویې ویل چې: مور اورېدلي چې تاسې ارموني یاستئ؟ مولانا په ډېر ډاډ ورته وفرمایل: وروره! تاسې ته ناسمه خبره رسېدلې. زما د مور د نکاح شاهدان تر اوسه پورې لا ژوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی پوهېدل چې د هغوی موخه یوازې کنځلې کول او ضرر رسول دي ، خو د انبیاوو د وارث کړنه چې باید څه وي هماغه یې وکړل. د هغوی کنځلې ته یې د پوښتنې په سترګه وکتل او خبره یې پای ته ورسوله.

## د نبوت تګلاره او موږ

حقیقت دا دی چې د بلنې او اصلاح کار انبیاء یا د هغوی وارثان کولی شي چې ګام پر ګام خپله وینه څښي او د دښمن په خیر ، ښېګڼې او خواخوږۍ کې لګیا وي. د هغوی په کړو وړو او خبرو کې پر کوم مخالف لعنت ویل یا سپکول نه وي ، هغوی د مخالف په ځواب کې د شوخو کلماتو په فکر کې نه وي ، پر چا د پړې اچولو اړخ نه غوره کوي ، د همدې کړنې اغېز دا وي چې د څو ورځو له مخالفت وروسته لوی لوی سرکښه د هغوی پر وړاندې غاړه ماتې شي او د هغوی خبرې ومني. نن تأسف دا دی چې موږ د انبیاوو له تګلارې دومره لرې تللي یو چې زموږ په ویناوو او لیکنو کې د هغوی د هېڅ خبرې رنګ نه دی پاتې.

د نن ورځې د مبلغ او مصلح کمال دا ګڼل کېږي چې پر مخالف ډول ډول تورونه ولګوي او هغه رسوا کړي او خپله وینا داسې ژوندۍ کړي چې اورېدونکی زړه ټینګ ونیسي ، همدې ته د نن ورځ ژبپوهنه او د پښتو ادب وایي. انا لله و انا الیه راجعون.

الله تعالی خو چې کله انبیا د بلنې پر دریځ دروي نو د موسی او هارون علیهما السلام په څېر اولوالعزمه پیغمبرانو ته د فرعون غوندې د یوه سرکښه کافر په لور د لېږلو پر مهال دا لارښوونه کوي: ((قولا له قولا لینا لعله یتذکر او یخشی. ژباړه: له فرعون سره نرمه خبره وکړئ ، ښایي لارې ته برابر شي او له الله تعالی ووېرېږي.))

نن زموږ په علماوو ، مصلحینو او مبلغینو کې هېڅ یو له حضرت موسی او هارون علیهما السلام څخه لوړ لارښود او هادي نه شي کېدی او د هغوی مخاطبین له فرعون څخه زیات بې لارې نه شي کېدی ، نو د دوی لپاره دا څرنګه روا شوه چې څوک چې د دوی له نظر سره اختلاف لري ، په هغه پسې ملنډې ووهي او د پښنو غوځولو په هڅه کې یې شي او له استهزا او ټوکو سره پر هغوی لفاظي وکړي. او بیا په زړه کې خوشاله وي چې د دین ډېر لوی خدمت یې ترسره کړی دی. او له خلکو څخه د دې تمه ولري چې د دوی خدمتونه وستایي او ویې مني.

زما په اند په دې وخت کې دا درې اسباب دي چې د مسلمانانو د پرمختګ پر وړاندې لوی خنډ دي. د هرې غوندې په پایله کې افتراق او د هر تنظیم په پایله کې تفریق ، د هرې اصلاح په پایله کې فساد او د هر دعوت په پایله کې کینه را ټوکېږي. کاش موږ په ګډه فکر وکړو او د نورو له اصلاح کولو مخکې د خپلې اصلاح په اړه فکر وکړو. ځکه آره ناروغي همدا ده چې د مال او ځای له مینې او د حسد او کینې له پلیتیو څخه زموږ خپل زړونه پاک نه دي. موږ په دې ډېر ویاړو چې له غلا ، رشوت ، سود ، شراب ، نڅا ، موسیقي او سینما څخه ځان ساتو او د لمانځه او روژې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پابند یو. خو خطر دا دی چې داسې خو به نه وي چې زموږ د لمانځه او روژې دا پابندي او له سود ، شراب ، نڅا او موسیقي څخه زموږ ځان ساتنه یوازې د خپل مولویتوب د مسلک له امله وي. ځکه چې په دې مسلک کې د دې شیانو ځای نشته ، که نه که له دې شیانو څخه مو خاص د خدای له وېرې ځان ساتلی وی نو د مال او مقام له مینې ، کینې او حسد ، لویی او ځان ښودنې څخه به هم خوندي وی. ځکه چې د دې شیانو چټلتیا له سود او شرابو څخه کمه نه ده. خو دا باطني ګناهونه زموږ د چپنې او پټکي تر سیوري لاندې ځایېدی شي ، له همدې امله د هغوی پروا نه کوو او همدا هغه شیان دي چې په اصل کې د ټولو تفرقو بنسټونه دي. الله تعالی دې موږ ته لدې ټولو اپتونو څخه د ځان ساتنې بشپړ توفیق راکړي تر څو په یوه زړه د بلنې او اصلاح کار له پیغمبرانه جذبې او د پیغمبرانه ادابو په ملتیا ترسره کړو.

## د وینا لنډیز

د فکر او نظر له خاوندانو دا خبره پټه نه ده چې اوس مهال د نړۍ په ګوټ ګوټ او هر هېواد کې مسلمانان چې له کومو مصیبتونو او اپتونو سره لاس او ګرېوان دي ، د هغو تر ټولو لوی لامل خپل منځي تفرقه او کورنۍ جګړې دي. که نه د شمېر او مادي اسبابو له مخې د اسلام په ټول تاریخ کې هېڅ وخت هم مسلمانانو دومره لوی ځواک نه دی ترلاسه کړی ، څومره ځواک چې نن په لاس کې لري.

او کله چې د دې تفرقې پر علت غور کېږي نو د هغه علت له خدای او آخرت څخه مخ اړونه او د نورو قومونو په څېر یوازې د دنیا د څو ورځني مال ، شتمنۍ ، عزت او مقام بې واګو هوس وي. چې زموږ په ټولنه کې کله د سیاسي واک لپاره د اړ و دوړ ، سوداګریزو او صنعتي سیالیو او د پوستونو او منصبونو لپاره د خپل منځي شخړو په بڼه زموږ ټولنه ټوټې ټوټې کوي او کله د مذهبي او دیني نظریاتو په جامه او د بېلا بېلو نظامونو په شکل کې زموږ د یو بل د مسخره کولو او سپکولو وسیله ګرځي ، که نه که د اجتهادي نظریاتو د خپل منځي اختلاف سربېره د صحابوو او تابعینو په څېر زموږ د جنګ لوری یوازې د کفر و الحاد او بې دینۍ په لور واوړي او د هغو په مقابل کې د مسلمانانو بېلا بېلې ډلې په یوه صف کې ودرېږي او یو کلک بنسټ وګرځي نو ننۍ ناخوالې به یوه هم ترسترګو نه شي.

## له با مسؤلیته علماوو له درد ډکه غوښتنه

د سیاسي او اقتصادي میدان او د مقام او منصب په سیالۍ کې د بې اعتدالیو مخه نیول خو له یوې مخې زموږ په وس کې نه دی ، خو پخپله د دین او مذهب لپاره د کار کوونکو ډلو په نظریاتو او کارونو کې د ګډې موخې لپاره په شته اختلافاتو کې اعتدال راوستلی شو. که موږ د اسلام د بنسټیزو اصولو د ساتنې او د الحاد او بې دینۍ د سېلاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخنیوي مهمه موخه په صحیح معنا وپیژنو نو دا هغه د یو والي ټکی دی چې د مسلمانانو ټولې فرقې او ټولې ډلې پرې را ټولېدی او په ګډه کار کولی شي او هماغه وخت د دې سېلاو په مقابل کې کوم اغېزمن ګام پورته کېدلی شي.

خو د حالاتو کتنه د دې ښکارندویه ده چې همدا اصلي موخه زموږ له پامه غورځېدلې ده. له همدې امله زموږ د وړتیاوو ، علم او تحقیق زور په خپل منځي اختلافي مسایلو کې په مصرف رسېږي. همدا زموږ د غونډو ، وعظونو ، کتابګوټو او ورځپاڼو د بحث سوژه وي. زموږ له دې کار څخه ولس په دې فکر کې وي چې د اسلام دین یوازې د همدې دوو شیانو نوم دی. او کوم لورى چې دوى غوره کړى دی ، د هغې په خلاف وینا یا کړنه له بې لاریتوب او اسلام سره په دښمني تعبیروي ، چې په پایله کې زموږ هغه ځواک چې باید د کفر ، الحاد او بې دینۍ او په ټولنه کې د زیاتېدونکي بې حیایۍ په مقابله کې لګول شوی وی ، په خپل منځي جګړو او شخړو کې لګېږي. اسلام او ایمان چې له موږ پر کوم مورچل د جنګېدو او قرباني  ورکولو غوښتنه کوي هغه مورچل د دښمنانو د یرغلونو لپاره تش پروت دی. زموږ ټولنه له ټولنیزو ناخوالو ډکه ده. اعمال او اخلاق ویجاړ شوي دي. په معاملاتو او تړونونو کې دوکې دي. سود ، قمار ، شراب ، خنزیر ، بې حیایي او بدکارۍ زموږ د ژوند په هر ډګر کې خپاره شوي دي. پوښتنه دا ده چې د انبیاوو رښتیني وارثان او د هېواد او ملت ساتونکي چې پر خپلو مخالفینو څومره په غوسه کېږي ، ولې د هغې نیمایي هم د خدای پر سرکښانو نه غوسه کېږي؟ او په خپلو کې د نظري اختلاف پر مهال چې د کومې ایماني جذبې څرګندونه کوي ، ولې د ایمان پر دې مورچل نه ښکارېږي؟ زموږ د ژبې او قلم ځواک چې په کوم ډول په خپلو اختلافي مسایلو کې جهاد کوي ، د هغې یوه برخه د ایمان پر سرحدونو او اصولو باندې د کېدونکو یرغلونو په مقابل کې ولې نه لګول کېږي؟ د مسلمانانو د مرتد کوونکو هڅو په مقابل کې موږ ولې یو کلک دېوال نه ګرځو؟

اخر موږ پردې ولې غور نه کوو چې د انبیاوو را استول او د قرآن نازلېدل هغه ستره موخه چې په نړۍ کې یې انقلاب راوست او چې د ادم اولاد یې له حیوانیت څخه را و ایست او پر انسانیت یې سرلوړی کړ او هغه چې ټوله نړۍ یې د اسلام دایرې ته را وښکله ، آیا هغه یوازې همدا مسایل وو چې موږ پکې اخته یو او نورو ته د لارښوونې تکلارې او پیغمبرانه دعوت همدا سرلیک درلود چې نن موږ غوره کړی دی.

((الم یأن للذین امنو ان تخشع قلوبهم لذکر الله وما نزل من الحق.)) ((ژباړه: آیا لا تراوسه هغه وخت ندی رسېدلی چې د مؤمنانو زړونه د الله ذکر او د هغه د نازل کړي حق پر لور واوړي.))

اخر هغه وخت به کله راځي چې له خپلو نظري او اجرایوي مسایلو ور هاخوا واوړو او د اسلام د بنسټونو ساتنه او د ویجاړې شوې ټولنې رغونه به خپله اصلي وجیبه ګڼو؟ په هېواد کې به د عیسویت او کمیونیزم د زیاتېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاو څخه ځان خبروو ، د قادیانیانو له حدیثو د انکار او په دین کې د لاسوهنې لپاره د جوړ شویو ادارو مقابله به د پیغمبرانه دعوت او اصلاح په وسیله کوو ؟

او که موږ دا کار ونه کړ او په محشر کې زموږ خوږ پیغمبر رسول کریم ﷺ له موږ دا پوښتنه وکړه چې زما پر شریعت او زما پر دین یرغلونه کېدل ، د اسلام پر نوم کفر خپرېده ، پرلپسې هڅې روانې وې چې زما امت زما د دښمنانو امت شي ، په قرآن او سنت کې څرګندې لاسوهنې روانې وې ، د خدای او رسول ښکاره نافرمانۍ کېدې نو تاسې د علم داعیان چېرته وئ؟ د هغوی په مقابل کې مو څومره زیار وایست او قربانۍ مو ورکړې؟ څومره بې لارې خلک مو لارې ته راوستل؟ نو موږ باید نن فکر وکړو چې زموږ ځواب به څه وي!؟

## کړنلاره

د همدې لپاره د ملت پر درد پوه او د اسلام او ایمان پر اصولو او موخو باندې خبرو علماوو نه مې هیله دا ده چې د موخې اهمیت او نزاکت په پام کې ونیسي. له هر څه مخکې خو په خپلو زړونو کې دا ژمنه وکړئ چې خپل علمي او عملي وړتیا او د ژبې او قلم ځواک به زیات تر زیات پر هغه مورچل لګوئ ، د کوم مورچل د ساتنې لپاره چې قرآن او حدیث بلنه درکوي.

درنو علماوو! د دې خبرې ژمنه هم وکړئ او پرېکړه هم چې د دې کار لپاره به له خپلو اوسنیو بوختیاوو تر ټولو زیات وخت وباسئ. دوهم دا چې خپل نظریاتي او اجتهادي اختلافات به یوازې د خپل درس تر حلقو او تصنیف او تالیف او فتواوو پورې محدود ساتئ. د ولسي غونډو ، ورځپاڼو ، لوحو ، د خپل منځي مناظرو او جګړو په ذریعه به یې نه را پورته کوئ ، په دې حلقو کې به هم د دعوت او اصلاح د پیغمبرانه اصولو په پیروۍ له زړه بوږنوونکو ، له طعن او سپکاوي ډکو ، استهزاوو ، رشخند او ژورنالیستکو عبارتونو ځان ساتئ. دریم دا چې په ټولنه کې د خپرو شویو ناروغیو د درملنې لپاره به په زړه راښکونکي او له مینه ناکې ژبې او لهجې خپل کار پیلوئ. څلورم دا چې د الحاد ، بې دینۍ او په قرآن او سنت کې د لاسوهنې د مقابلې لپاره د دعوت د پیغمبرانه اصولو تر سیوري لاندې له حکمته ډکو تدبیرونو ، له نصیحت او خواخوږۍ ډکو ویناوو او د زړه راښکونکو دلایلو په وسیله او د ((مجادله بالتی هی احسن)) سره به د خپل د ژبې او قلم ځواک کاروئ.

ما چې کوم څه وویل ، په ډېرې بښنې سره ، چې نه دا زما مقام وو او نه راته په کار وو چې د علماوو په وړاندې داسې جرأت وکړم خو د خوږمن زړه څه کلمات وو ، چې پر ژبه راغلل. زما قدرمن مشران دې ماته بښنه وکړي او که په دې خبرو کې کوم ګټور اړخ وي نو هغه د دوی خپل کار دی ، پکې غوره دې کړي. زه هیله لرم چې که علماوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې لور ته پام واړاوو او کار يې پيل کړ نو د الله تعالى ژمنه ((ان تنصروا الله ينصركم يعنې که تاسې له الله سره مرسته وکړئ ، الله به له تاسې سره مرسته وکړي)) پخپلو سترګو پوره کېدونکې ووينئ.

((ان اريد الا الاصلاح مااستطعت وما توفيقى الا بالله عليه توكلت و اليه انيب))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امت اختلافات او د هغو حل

مولانا مفتي محمد شفیع صیب رحمه الله په یوه بل ځای کې ((د امت اختلافات او د هغو حل)) تر سرلیک لاندې وعظ وکړ چې په حقیقت کې د ((امت یو والی)) کتابګوټي بشپړوونکی حیثیت لري. په همدې اړوند دا تقریر هم د ((امت یوالی)) له کتابګوټي سره یو ځای خپرېږي ، تر څو خبره بشپړه شي او د ناروغۍ او درملنې دواړو څرګنداوی پر یو وخت وړاندې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امت اختلافات او د هغو حل

کله چې شیخ الهند ((مولانا محمود الحسن صاحب (قدس الله سره)))، د ((مالټا)) په زندان کې له څلور کلن بند تېرولو وروسته دارالعلوم دیوبند ته راغی نو د علماوو د یوې غونډې پر وړاندې یې یوه ډېره مهمه خبره وکړه.

هغه خلک چې له شیخ رَحِمَهُ اللهُ سره بلد دي، هغوی له دې هم ناخبره نه دي چې د هغوی دا بند د عامو سیاسي مشرانو د بند غوندې نه وو. د خپلواکۍ په جنګ کې د دې مشر ټولې هلې ځلې یوازې د حق سبحانه و تعالی د خوښۍ لپاره د امت د سوکالۍ او سوبتیا شاوخوا راڅرخېدلې. د مسافرۍ او د ډېرې بې کسۍ پر مهال د نیول کېدو په وخت کې هغه جمله چې د هغوی پر ژبه مبارکه راغله، د دوی د هوډ او موخې بشپړ څرک ترې لګېږي. ویې فرمایل: ((الحمد لله، بمصیبتی گرفتارم نه بمعصیتی. ژباړه: ستاینې الله لره دي چې پر مصیبت نیول شوی یم، نه پر ګناه.))

د زندان په یوازیتوب کې یوه ورځ چې ملګرو ډېر خفه ولید نو ځینو ملګرو وغوښتل د ډاډېینې لپاره یې څو خبرې وکړي، نو ده رَحِمَهُ اللهُ وفرمایل: د هغه کړاو څه غم دی چې یوه ورځ به ختم شي، غم دا دی چې دا زحمت او زیار د الله تعالی په نزد قبول دی او که نه؟

د مالټا له زندانه له راخوشي کېدو وروسته یوه شپه د ماخوستن له لمانځه وروسته په دارالعلوم دېوبند کې ناست وو. د علماوو لوی شمېر یې په وړاندې وو. په دې وخت کې یې وفرمایل چې: موږ خو د مالټا په ژوند کې دوه درسه زده کړل. د دې ټکو په اورېدو د غونډې ټول ګډونوال غوږ غوږ شول چې دې استاذ العلما شیخ اتیا کاله علماوو ته له درس ورکولو وروسته په وروستي عمر کې چې کوم درسونه زده کړي دي هغه څه دي. ویې فرمایل: ما چې تر کوم ځایه د زندان په یوازیتوب کې په دې غور کړی چې په ټوله نړۍ کې مسلمانان له دیني او دنیوي هر اړخه ولې له منځه روان دي، نو د هغې دوه علته راته څرګند شول. یو، د قرآن پرېښودل؛ بل د هغوی خپل منځي اختلافات او کورنۍ جګړې. د همدې لپاره مې له هماغه ځایه دا هوډ راسره راوړی چې خپل پاتې ژوند به په همدې کار کې لګوم چې قرآن کریم د لفظ او معنا دواړو له اړخه عام شي. د ماشومانو لپاره د لفظي ښوونې ښوونځي په کلي کلي کې ودان شي. لویان د ولسي قرآن ښوونې په بڼه د هغه له معنا سره اشنا کړی شي او په قرآني لارښوونو د عمل لپاره چمتو کړی شي او د مسلمانانو خپل منځي جګړې او شخړې په هېڅ بیه ونه زغمل شي.

د امت حکیمانو چې د مړه ملت د ناروغۍ کوم تشخیص او درملنه وړاندیز کړې وه، د ژوند په پاتې ورځو کې د کمزورتیا، ناروغۍ او د بوختیاوو له ډېروالي سربېره یې د دې لپاره پرلپسې هڅې وکړې او پخپله یې د قرآن تدریس پیل کړ. چې په دې کې به د ښار ټولو علماوو او دغه راز د ((حضرت مولانا حسین احمد مدني)) او ((حضرت مولانا شبیر احمد عثماني)) په څېر علماوو هم ګډون کاوه او ولس هم. او پخپله زه ((لیکوال)) هم په دې درس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګډون له لوړاوي برخمن وو. خو له دې پېښې وروسته د حضرت رحمه الله ژوند هم يوازې د ګوتو په شمېر څو ورځې وې.

آن قدح به شکست و آن ساقی نماند

نن هم مسلمانان چې په کومو اړتونو کې اخته او له کومو پېښو او بلاوو سره مخ دي ، که له ځيرکتيا کار واخلو ، د هغو تر ټولو لوی علتونه به همدا دوه ثابت شي ، قرآن پرېښودل او پخپلو کې جنګونه کول. که غور وکړو نو دا خپل منځي جګړه هم د قرآن د پرېښودو يوه حتمي پايله ده. که پر قرآن تر يو څه اندازې هم عمل کېدی ، نو کورنۍ جګړه به تر دې بريده نه رسېده.

## د رايې د اختلاف بريدونه

د رايي اختلاف مذموم نه دی که له خپلو ټاکلو بريدونو وا نه وړي. د انسان په فطرت کې يې پيدا کوونکي د حکمت له مخې يوه ماده د غوسې او دفاع هم ايښې او هغه د انسان د بقا او پرمختګ لپاره ضروري ده. خو دا ماده يې د دښمن د دفاع لپاره ايښې ، که د دې لوری بل لوري ته واوړي —که څه هم چې د دښمن په پېژندلو او ټاکلو کې تېروتنه ترې شوې وي يا د کوم بل علت له مخې— په هر حال کله چې د دښمن لوری بدل شي نو دا پخپله د خپلې تباهۍ وسيله ګرځي. له همدې امله قرآن کريم د مؤمن لپاره په پوره وضاحت د هغه خوا يا لوری ټاکلی دی.

((ان الشيطان لکم عدو فاتخذوه عدوا. ژباړه: شيطان ستاسې دښمن دی او پر دښمنۍ يې ونيسئ.)) چې موخه يې دا ده چې د مؤمن د غوسې او جنګ صحيح لګښت يوازې شيطان او شيطاني ځواکونه دي. کله چې د دې جنګ مخ همدې خوا ته وي نو د قرآن کريم په اصطلاح کې ورته جهاد وايي چې له سترو عبادتونو څخه دی. په حديث کې راځي: ((ذروة سنامه الجهاد ، يعنې په اسلام کې تر ټولو لوړ کار جهاد دی.)) خو که د دې جنګ لوری لږ له هغه خوا واوښت ، نو د جهاد پر ځای فساد بلل کېږي چې له دې څخه د ژغورنې لپاره د الله پيغمبران او کتابونو راغلي دي. د شکل او بڼې په اعتبار د جهاد او فساد تر منځ هېڅ توپير نه وي. هغه کرښه چېرته چې دا دواړه سره بدلېږي ، دا دی چې که د هغه مخ د شيطان او شيطاني ځواکونو په لور وي نو جهاد که نه نو فساد دی. د دوو ملتونو نظريه ، چې په پايله کې يې پاکستان رامنځته شو ، د همدې اجمال عملي تفصيل وو چې د اسلام د کلمې منونکي يو واحد قوم دي او نه منونکي يې بل قوم. د هغوی د جهاد لوری بايد همدې خواته وي.

((حضرت شاه ولی الله قدس سره)) د جهاد د فرض کېدو يو حکمت دا هم ښودلی دی چې د قهر او غضب او دفاع کومه ماده چې په انساني فطرت کې اخښل شوې ده کله چې د جهاد په وسيله خپل صحيح لګښت ومومي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل منځي کورنۍ جګړې او فساد پخپله له منځه لاړ شي ، که نه نو د دې مثال داسې وي لکه د کوم بام لپاره چې د باران د اوبو د وتلو لاره د ناوې په بڼه جوړه نه شي نو بیا اوبه بام سوری کوي او دننه راځي.

## سوله او جګړه، له چا سره

که نن ورځ غور وکړو نو په ټوله اسلامي نړۍ کې همدا بېلګه رښتیا کېږي. له شیطان او شیطاني تعلیم ، له کفر او الحاد ، له خدای او رسول سره له بغاوت او بې حیایۍ او عیاشۍ سره طبیعتونه اشنا شوي دي. د دې ټولو کینه له زړونو وتلې ده ، هېچا ته پرې غوسه نه ورځي. د انساني رواداری ، اخلاقو او مېرانې ټول ځواک د کفر ، الحاد او ظلم پر ملاتړ لګېږي. د کینې ، سرکښۍ او د دښمنۍ لوری پخپله د خپلو غړو او ګاونډیو په لور دی. په خپلو کې په وړه وړه خبره جنګ او جګړې دي. د اختلاف له یوه کوچني ټکي لوی غر جوړ شي. همدا د ورځپاڼو او کتابګوټو خواړه ګرځېدلي. له دواړو لورو خپله وړتیا داسې لګول کېږي چې ګواکې جهاد ترسره کوي. دوه جنګ کوونکي قوتونه جنګ کوي او هېڅ د خدای بنده خپل ګرېوان ته سر نه ټیټوي:

چې دا نړېږي ، هغه کور ستا نه وي ، ظالمه!

د هېوادونو له سیاست څخه نیولي تر کورنیو چارو پورې په ټولو کې همدا تر سترګو کېږي. هره خوا چې ګورې د ((انما المؤمنون اخوة)) تدریسوونکو یو بل له ګرېوانه نیولي وي. قرآن حکیم چېرته چې د بښنې او تېرېدنې ، د صبر او بښنې تلقین کړی وو ، همالته جنګ روان دی او پر کوم مورچل یې چې د جهاد بلنه ورکړې وه هغه مورچل د دښمنانو د یرغلونو لپاره تش پروت دی. ((فالی الله المشتکی وانا لله وانا الیه راجعون.))

د جرګو ، مرکو او د ښاروالۍ د هیئتونو غونډې ، د حکومت د دندو او کارونو سیالۍ ، په صنعت او سوداګرۍ کې مقابله ، د شتمنو او خانانو کشمکش چېرته چې خاص د خپلو حقونو جنګ دی چې پرېښودل یې د ټولو په نزد قرباني او د لوړو اخلاقو ثبوت دی ، هلته کوم څوک یو انچ هم ښورېدو ته تیار نه دي. د دین او مذهب په نوم د کار کوونکو خو لومړی شمېر لږ دی او هغه چې شته ، هغو عموماً د قرآن او سنت له بنسټیزو لارښوونو مخ اړولی او په فرعي او څنګیزو مسایلو کې سره اخته دي. له وړې نه وړه مسئله د شخړې مورچل ګرځېدلې ده ، چې تر شا یې د غیبت ، درواغو ، مسلمان ته ضرر ، تور او تهمت ، استهزا او رشخند په څېر د متفق علیه کبیره ګناهونو په کیسه کې هم نه وي. د دین په نوم د خدای په کورونو کې شخړې ، وژنې او جنګونه کېږي او خبره آن تر پولیسو او محکمو پورې رسېدلې ده.

دا دینداران په خدای او رسول باندې له استهزا کوونکو ، شراب څښونکو ، د سود او رشوت خوړونکو سره هغه کینه نه لري ، کومه چې په دې مسایلو کې له اختلاف کوونکو سره یې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو د خدای بنده پردې غور نه کوي چې د دې په مثبت او منفي دواړو اړخونو کې یو هم د چا په نزد داسې نشته چې د هغه لپاره له مسلمانانو سره جنګ کول روا وي او یا د نورو غیبت کول ، تور لګول ، سپکول او ذلیل ګڼل روا وي.

## د رغونې یوه ناسمه هڅه

زموږ د نوو تعلیم یافته روڼ اندو رغوونکو پام چې کله د دې خپل منځي اختلافونو ورانکاره پایلو ته اوړي او د هغې د درملنې فکر ورسره پیدا کېږي نو د دوی په فکر کې ټولې خرابۍ یوازې په هغو اختلافاتو کې ور ښکاري چې د دین او مذهب په نوم رامنځته کېږي. او هغوی یوازې د همدې اختلاف د له منځه وړلو لپاره د علاج فکر کوي. هغوی په دې وخت کې ټولې هغه جګړې هېرې کړي چې فقط د نفسي او ذاتي غوښتنو لپاره ترسره کېږي ، د کومو لپاره چې سر ، عزت ، مال او هر څه حلال ګڼل کېږي چې تر شا یې په ټول هېواد کې د خپل منځي کرکې سېلاو څپې وهي ، خو دا چې هغو ته د نوي تمدن او شرافت نوم ورکول کېږي ، له همدې امله نه هغه د قوم لپاره ناروغي ګڼل کېږي او نه د هغې د درملنې فکر ته اړتیا لیدل کېږي.

په اختلاف او جنګ کې یوازې ملا بدنامه دی او د هماغه علاج تر غور لاندې دی. حال دا چې د دین او مذهب په نوم چې کوم اختلافات رامنځته کېږي ، که غور وکړو نو د هغو خرابتیا یوازې له پولو څخه د تېرې له امله را پیدا کېږي ، که نه اختلاف د هېڅ ډول وروری د له منځه تلو لامل نه شي ګرځېدی. دا خپل ذاتي حقونه نه دي چې قرباني کړی شي. بلکې د قرآن او سنت د تعبیر اختلافات دي ، چې له منځه نه شي وړل کېدی.

زموږ ځینې روښن فکره مصلحین ټول فساد په همدې اختلافاتو کې ایسار بولي او د هغه درملنه دا وړاندیزوي چې د ډلبازیو اختلافات دې له مخې لرې کړی شي او له ټولو دې یو نوی او ګډ مذهب جوړ کړی شي. د ټول قوم به هماغه یو مذهب وي ، تر څو د اختلافاتو بېخ له منځه لاړ شي.

خو دا خبره په مذهبي مسایلو کې نه د عقل له مخې سمه ده او نه هم عملاً امکان لري. هو ، یوازې په دنیوي چارو کې په کومو کې چې جنګ د ذاتي حقونو وي ، هلته له خپلو خپلو غوښتنو په تېرېدو دا ډول سوله کېدی شي. له همدې کبله د خپل منځي جنګ او شخړې درملنه دا نه ده چې د رایې اختلاف له منځه یو وړل شي او ټول یوې نظریې ته غاړه کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نظري اختلاف او جنگ و فساد توپير

د عقل او بصيرت له څښتنانو پټه نه ده چې ديني او دنيوي ، د معاملاتو په دواړو ډولونو کې ډېرى داسې مسايل راځي په کومو کې چې رايې توپير لرلی شي. په هغو کې اختلاف کول پخپله د عقل او ديانت يوه تقاضا ده. په هغو کې اتفاق يوازې په دوو صورتونو کې کېدلی شي يا خو دې په غونډه کې هېڅ سترګور او د رايې څښتن نه وي ، يو کس دې يو څه ووايي او ټول دې ورسره ومني. او يا دې نو له رضا د يو چا د مراعت او مېړانې له امله د خپل ضمير او د خپلې رايې په خلاف خبرې باندې چوپتيا غوره کړي. که نه که عقل او ديانت دواړه شته وي نو د رايې اختلاف اړين دی او دا اختلاف هېڅکله زيان راوړونکی نه وي. بلکې د نورو لپاره د بصيرت توکي برابروي. په جرګو کې د حزبونو اختلاف پر همدې بنسټ اړين ګڼل کېږي.

د قرآن او سنت د مجملاتو او پېچلتياوو په تشريح او تعبير کې همدې ډول اختلافاتو ته رحمت ويل شوی دی ، چې د اسلام له لومړني پېر څخه نيولې د صحابوو ، تابعينو او بيا تر مجتهدو امامانو پورې يې دوام درلود. په دې مسايلو کې کوم اختلافات چې د صحابه کرامو تر منځ رامنځته شوي ، د هغو د له منځه وړلو معنا له دې پرته بل څه نه شي کېدی چې د صحابه کرامو يوه ډله دې باطله وګڼلی شي چې د صحابوو باطل ګڼل پخپله د حديثو د نصوصو او قرآني لارښوونو سره بالکل خلاف کار دی. د همدې لپاره ((حافظ شمس الدين ذهبي)) فرمايلي دي چې په کومه مسئله کې چې صحابه کرامو اختلاف کړی ، د هغه بيخي له منځه وړل امکان نه لري.

## د صحابوو او مجتهدو امامانو تګلاره

د دې ترڅنګ د صحابوو ، تابعينو او مجتهدو امامانو د پېر هغه تاريخ هم مخته اېښودل اړين دي چې د کتاب او سنت د تعبير له مخې کوم د رايې اختلاف چې د هغوی تر منځ پېښ شوی ، په دې ټول تاريخ کې يوه واقعه هم داسې نشته چې هغه دې د جنګ او شخړې بڼه غوره کړې وي. په مسايلو کې د خپل منځي اختلاف سربېره په يو بل پسې لمونځ کول او د ورورۍ ټولې اړيکې ساتل په دې ټول تاريخ کې يو لوی شاهکار دی. په سياسي مسايلو کې شخړې ، د صحابوو فتنې ، د تکويني حکمتونو پراساس رامنځته شوې. د هغو په منځ کې توري هم وچلېدې خو د همدې فتنې په پيل کې کله چې مظلوم امام حضرت عثمان غني رض د سرکښانو په لومه کې ايسار وو او همدې سرکښو د لمنځونو امامت ترسره کاوه ، نو مظلوم امام مسلمانانو ته د هغوی په اقتدا د لمانځه کولو لارښوونه وکړه او عام قانون يې دا ور وښوده چې: ((اذهم احسنوا فاحسن معهم وان هم اساؤا فاجتنب اساءتهم ، يعنې کله چې دوی کوم نېک کار کوي ، مرسته ورسره وکړئ او کله چې بد او ناسم کار کوي ، ترې لرې اوسئ.)) د دې لارښوونې په وسيله يې د سر په بيه مسلمانانو ته د قرآني لارښوونې((وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ)) صحيح تفسير وښوده او د خپل منځي تيت او پرکې او افتراق دروازه يې وتړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د همدې فتنې په پای کې کله چې د حضرت علي او حضرت معاويه رضی الله عنهما تر منځ د جنګ ميدان تود وو ، د روم د عيسوي سلطنت له خوا حضرت معاويه (رض) ته له خپل ځان سره د يو کېدو او له هغه سره د مرستې پيغام ور ورسېد نو د حضرت معاويه رض ځواب دا وو چې زموږ په اختلاف ونه غولېږې. که مو د مسلمانانو په لور مخ را واړاوه نو د حضرت علي (رض) د لښکر لومړی عسکر چې ستا سره د مقابلې لپاره به وځي ، هغه به معاويه وي. نو معلومه شوه چې خپل منځي اختلاف چې د منافقينو د ژورو سازشونو له امله د تشدد اړخ خپل کړی دی ، په هغه کې هم د اسلام بنيادي حقايق له پامه نه دي غورځېدلي.

د وينا لنډيز دا دی چې د کتاب او سنت په تعبير کې د رايې اختلاف چې د صحابوو ، تابعينو او مجتهدو امامانو تر منځ وو هغه بې له شکه رحمت دی. د هغه کوم اړخ نه مخکې مسلمانانو ته زيان رسوونکی ثابت شوی او نه نن کېدی شي. په دې شرط چې د هماغو پولو دننه وي په کومو کې چې هغوی ساتلی وو چې اغېز به يې په لمانځه ، جمعې ، امامت او د معاشرت پر هېڅ چارې شتون نه درلود.

## شخړه او سمون

د مذهب په نوم نور اختلافات له لومړنيو پېړيو وروسته د بدعت او سنت او له نورو سرليکونو راپيدا شول. دېرې خلکو د قرآن او سنت په تعبير کې صحيح اصول پرېښودل او ذاتي رايه يې اساس وګرځوله او نوي نوي مسايل يې را پيدا کړل. دا اختلافات بې له شکه چې هغه تفريق او افتراق وو چې په قرآن او سنت کې مسلمانان ترې وېرول شوي دي. د هغو د له منځه وړلو يا کمولو هڅه بې له شکه چې ګټوره وه ، خو قرآن حکيم د دې هم يوه ځانګړې طريقه ښوولې ده چې په وسيله يې د تفريق ساحه راتنګه او لا پراخه نه شي. دا هغه د خير په لور د بلنې اصول دي په کومو کې چې تر ټولو لومړی له حکمت او تدبير او بيا خير غوښتنې ، خواخوږۍ او خواږه عنوان سره د قرآن او سنت د صحيح مفهوم په لور د خلکو را بلنه ده. او په پای کې((مجادله بالتی هی احسن – يعنې په حجت او دليل سره د پوهولو او پوهېدلو)) هڅه ده.

د تأسف ځای دی چې نن سبا عام د علم خښتنو او سمون راوړونکو دا اصول له پامه غورځولي دي. يوازې په شخړو او هغه هم په غير مشروط انداز کې بوخت شوي او د خپل سيال د استهزا او رشخند ، د هغه د را لاندې کولو لپاره د رښتيا او دورغو ، روا او ناروا هر ډول جالونو کارول يې غوره کړي دي چې حتمي پايله يې جنګ ، جګړه ، فساد او شخړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اختلافاتو د خرابيو پر وخت درملنه

نن کله چې د مسلمانانو تفرق انتها ته رسېدلی دی ، د خپلو مزعوماتو په خلاف هېڅوک د بل د خبرې منلو ، بلکې اورېدلو ته هم تیار نه دی او هېڅ داسې قوت نشته چې کومه ډله دې ته اړ کړي چې له دې خپل منځي جګړو او شخړو او د هغو له ورانکاره اغېزو څخه د اسلام او مسلمانانو د ژغورلو يوازې يوه لاره ده او هغه دا چې د ډلو او فرقو مسؤلين لږ په دې غور وکړي چې په کومو مسايلو کې چې موږ جنګ کوو آيا هغه د اسلام بنسټيز مسايل دي ، د کومو لپاره چې قرآن کريم رانازل شوی ، رسول کريم ﷺ رالېږل شوی ، هغه مبارک ﷺ خپل ژوند ورته وقف کړی او د هغو تر شا يې هر ډول قربانۍ ورکړې ، او که نه ، اساسي مسايل او د قرآن او اسلام اصلي غوښتنه کوم بل څه ده.

په کوم هېواد کې چې يو لور ته عيسوي مبلغين په خپل پوره ځواک او په ځلبل سره د دې هېواد د عيسوي کولو خوبونه ويني. يو لور ته په ښکاره د خدای ، رسول او د هغوی پر لارښوونو رشخند وهل کېږي. بل خوا د قرآن او اسلام پر نوم هر هغه څه ترسره کېږي چې د له منځه وړلو لپاره يې قرآن او اسلام راغلي وو ، په دې ځای کې يوازې د فروعي مسايلو او د هغو د څېړنې ، ګوتڅنډنې او دودولو په هڅو کې اخته او له بنسټيزو کارونو بې پروا خلکو څخه که د الله تعالی او نبي کريم ﷺ له خوا دا پوښتنه وشي چې زموږ پر دين مصيبتونه راتلل ، د هغو لپاره مو څه وکړل ؟ نو زموږ ځواب به څه وي ؛ زما يقين دی چې هره فرقه او هره ډله که لږ له خپلو جګړو سر راپورته کړي او فکر وکړي نو هغه به پر خپلو اوسنيو بوختياوو وشرمېږي او د خپلو هڅو لوری به بدل کړي. او په پايله کې به خپل منځي اړ او دوړ خامخا کم شي.

زه اوس دا نه وايم چې هغه دې خپل فکرونه او خيالات بدل کړي ، غوښتنه يوازې دومره ده چې د خپلې وړتيا د لګولو ځای دې ولټوي او هلته دې وکاروي. او خپل منځي اختلافات دې يوازې د درس تر حلقو ، يا فتاواوو يا تحقيقي کتابګوټو پورې محدود وساتي او په هغوی کې دې هم ژبه او لهجه د بلنې د قرآني اصولو په څېر نرمه وساتي. فقره بازۍ او د نورو سپکاوی دې زهر وګڼي. زموږ ولسي غونډې ، ورځپاڼې او لوحې دې د خپل منځي شخړې سکروټو ته د ورپوکولو پر ځای د اسلام پر بنسټيزو او متفق عليه مسايلو ولګوي. نو بيا زموږ جنګ ، چې د فساد بنه يې غوره کړې ده ، بيا ځلې به په جهاد بدل شي او د هغه په پايله کې به د ولس لوری هم د خپل منځي جنګ او شخړو څخه بېرته د دين د صحيح خدمت په لور واوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سمه او ناسمه تګلاره

ډېرى خلک په مسايلو کې د علماوو له اختلافاتو پرېشانه شي او پوښتنه کوي چې موږ پر کومه خوا لاړ شو ، چې تر شا يې هدف دا وي چې اوس موږ د هېچا هم وا نه ورو ، له ټولو خپلواک شو او څه چې ښه راته ښکاره شوو هغه وکړو ، او له ورايه د دوی دا ماشومانه پوښتنه په حقه ښکاري ، خو که لږ دقت وکړو نو هغوی به د دې څواب د خپل شاوخوا له چارو څخه پخپله ترلاسه کړي.

يو سړی ناروغه شو. د ډاکټرانو يا حکيمانو په رايو کې د تشخيص او درملنې په اساس اختلاف رامنځته شو نو هغه څه کوي. همدا چې د دې ډاکټرانو ، حکيمانو ډګريانې معلومې کړي او د هغوی په روغتون کې له نورو ناروغانو يا له نورو تجربه لرونکو څخه له پوښتلو وروسته د خپلې درملنې لپاره کوم يو ډاکټر وټاکي. د هماغه په تشخيص او لارښوونې عمل وکړي خو نورو ډاکټرانو او حکيمانو پسې بد رد او پوچ نه وايي. دلته هېڅوک داسې نه وايي چې د طبيبانو تر منځ اختلاف دی نو له ټولو تېر شئ ، په خپلې ازادې رايې چې څه غواړئ ويې کړئ. آيا همدا تګلاره د علماوو د اختلاف پر مهال نه شئ غوره کولی ؟

يو بل مثال هم در واخلئ. غواړئ يوه قضيه عدالت ته وړاندې کړئ. له قانون پوه وکيلانو سره مو مشوره وکړه. د هغوی د رايو ترمنځ اختلاف پېښ شو ، نو يو سړی هم دا نه وړانديزوي چې بيخي دې د قضيې له وړاندې کولو تېر شي يا دې کوم وکيل ته غوږ نه نيسي او په خپل فکر کې چې څه ورته ښه ښکاره شي هغه دې وکړي. بلکې کېږي خو همدا چې له بېلا بېلو لارو هر تن دومره څېړنه وکړي چې په هغوی کې کوم وکيل ښه پوهېږي او د باور وړ وي ، بيا هغه کس  د خپل وکيل په توګه غوره کړي او بل وکيل سره له اختلافه خپل دښمن نه ګڼي ، بد او رد پسې نه وايي او له هغه سره جګړې نه کوي.

همدا فطري او اسانه اصول د علماوو د اختلاف پر مهال ولې نه غوره کېږي ؟ دلته مو دې خبرې ته هم پام وي چې د ناروغۍ او د قضيې په معاملاتو کې مو که پر کوم ناسم ډاکټر يا بې باوره وکيل باور وکړ او خپله معامله مو هغه ته وسپارله نو له هغه څخه چې کوم تاوان رامنځته کېږي ، هغه به خامخا تاسې ته رسېږي. خو د علماوو په اختلاف کې د دې تاوان خطر هم نشته.

په حديث کې راځي چې: که کوم شخص له يوه عالم څخه پوښتنه وکړه او هغه ناسمه فتوا ورکړه نو د هغه ګناه پر پوښتنه کوونکي نه ، بلکې پر فتوا ورکوونکي ده. شرط دا دی چې پوښتنه له هغه شخص څخه شوې وي چې د هغه کس علميت مو د داسې څېړنې او پلټنې په مټ معلوم کړی وي ، څه ډول څېړنه چې د يوه ښه طبيب او ښه وکيل د لټولو پر مهال کوئ. تر خپله وسه د صحيح عالم له لټنې او پلټنې وروسته که مو د هغه پر قول عمل وکړ نو د الله تعالی په نزد مو غاړه خلاصه شوه. که هغه ناسم هم در  ښودلي وو نو پر تاسو يې کوم تاوان يا پړه نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو ، دا باید نه وي چې د ډاکټر په لټه کې خو دا معلوم کړئ چې هغه ((ایم بي بی ایس)) دی او دا هم چې د هغه په روغتون کې د کوم ډول ناروغانو درملنه زیاته کېږي ، خو د عالم په لټه کې یوازې د هغه پټکی ، چپنه او ږیره یا ډېر تر ډېره په غونډو کې وینا کول یې معیار وټاکئ. که مو داسې وکړل نو له خپل مسؤلیت څخه مو غاړه نه ده خلاصه ، که هغه په ځواب کې کومه تېروتنه وکړه نو تاسو به هم په هغه کې مجرم یاستئ.

## د خپل منځي جګړو او شخړو دوه رکنونه

د وینا لنډیز دا دی چې نن د مذهب په نوم چې د جنګونو او جګړو کوم بازار تود دی ، د هغه تر شا دوه عناصره ځای لري ، یو د هرې ډلې او فرقې علما او بل هغه عوام چې د هغو تر شا روان وي.

که علما په خپلو څېړنو او نیوکو کې د دعوت د قرآني اصولو په مطابق د نورو د ناقص ګڼلو او سپکولو څخه ځان وساتي او د اسلام هغه بنیادي مسایل چې هېڅ فرقه پکې اختلاف نه لري - په اسلام او مسلمانانو چې کوم مصیبتونه نن را روان دي ، هغه ټول له همدې مسایلو سره اړیکه لري- د خپلو هڅو او زحمتونو مخ هغې لور ته واړوي ، دغه راز عوام تر خپله وسه پوره کوښښ وکړي چې یو صحیح عالم غوره کړي او بیا د هغه په ښودلې لاره لاړ شي. له علماوو یا د هغوی له پیروانو سره جنګ ونه کړي نو را وښیئ چې په دې کې څه ستونزه ده. ټولې فرقې او د هغوی اختلافات که په خپل حال پاتې هم وي ، دا شخړې او جګړې پای ته رسېدلی شي چې مسلمانان یې د یوې خوا هم نه دي پرې ایښي. یوازې لږ همدې ته د پام اړولو او را اړولو او د تګلارې بدلولو ته اړتیا ده. دربغه ، زما دا غږ هغو مشرانو او ملګرو ته ورسېږي چې په دې لاره کې د څه کولو وړتیا لري. او یوازې د الله تعالی او د رسول الله ﷺ په نوم د دې خواخوږي دعوت لپاره ودرېږي نو د امت ډېر مشکلات به حل شي او زموږ ټولنه چې د وژونکو خرابیو کومې کندې ته لوېدلې ده ، له هغې به وژغورلی شي.

## د عامو سیاسي او شخصي جګړو علاج

لکه څرنګه چې مخکې بیان شول چې په مذهبي معاملاتو کې چې شخص کوم ځانګړی لوری غوره کړی دی ، هغه همدا لوری د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ لارښوونه او تلقین بولي او غوره کړی یې دی ، که څه هم د حقیقت له مخې بالکل ناسم وي. خو د هغه فکر لږ تر لږه همدا وي چې هغه د الله دین دی. په دې حالاتو کې په نرمۍ او خواخوږۍ سره د پوهولو او پوهېدلو هڅه باید وشي او تر څو چې د هغه فکر بدل نه شي هغه ته بلنه نه شي ورکول کېدی چې ته قربانۍ ورکړه او خپله نظریه پرېږده او سوله وکړه. هغوی ته یوازې دا ویل کېدی شي چې د رایې اختلاف تر خپلو پولو پورې وساتئ او د پوهولو او پوهېدلو ، د حکمت او وعظ قرآني اصول ، ((مجادله بالتی هی احسن)) له پامه مه غورځوئ. خو کوم معاملات چې یوازې په شخصي او ذاتي حقونو او خواهشاتو پورې اړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ، هلته دا معامله اسانه ده چې له جګړې څخه د ځان ساتنې لپاره د نورو لپاره خپل ځای پرېږدي. له خپل حق څخه لاس واخلي او کوم شخص چې دا وکړي په دنیا کې هم د هغه د عزت ازانګې لوړې شي او د کومې موخې لپاره یې چې پرې اېښی دی هغه هم له نورو لارو څخه ترلاسه شي او په آخرت کې خو د هغه لپاره یو لوی زېری دی چې عوض یې ټوله دنیا او د دنیا ټول حکومتونه او شتمنۍ هم نه شي کېدی.

رسول کریم ﷺ فرمایي: (( انا زعیم ، بیت فی ربض الجنة لمن ترک المراء وهو محق. ژباړه: د هغه شخص لپاره د جنت په منځ کې د یوه کور ضامن یم چې پر حقه وي او بیا هم له جګړې لاس واخلي.))

په پای کې خپلې لومړۍ جملې ته را ګرځم چې زموږ د ټولو خرابیو اساس د قرآن پرېښودل او په خپلو کې جنګ کول دي او دا خپل منځي جګړه هم په حقیقت کې له قرآني لارښوونو څخه د ناخبرۍ یا غفلت پایله ده. ډله ییزو تعصباتو دا حقایق له پامه غورځولي دي.

په دنیاکې د نېکانو کمبود خامخا دی خو داسې نه ده چې هېڅ نشته. افسوس دی چې د داسې اصلاح راوړنکو سخته قاحطي ده چې د شاوخوا له وړو وړو دایرو څخه لږ سر را وباسي او دباندې وګوري چې اسلام او قرآن هغوی کومې خوا ته ور بولي او د هغو غږ ته غوږ کېږدي.

الله تعالی دې موږ ټولو ته د دین پر لاره د تلو بشپړ توفیق راکړي. آمین

اللهم وفقنالما تحب وترضی من القول والفعل والعمل والنية وصلی الله تعالی علی خير خلقه وصفوة رسله مُحَمَّد و آله وصحبه اجمعين.

## پای

رحمت شاه فراز

احمد شاه بابا مېنه ، کابل - افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**